انسان مجله
فلسفه، فرهنګ، او هنر

ځانګړی دفتر

# نهه ژبنۍ ليکنې

د پښتو وييو، تاريخ، او فولکور اړوند

[illegible]

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

انسان مجله
فلسفه، فرهنګ، او هنر

ځانګړی دفتر

# نهه ژبنۍ لیکنې

## د پښتو وییو، تاریخ، او فولکور اړوند

لیکوال: عبدالودود بشریار

ketabton.com - The Digital Library

د کتاب نوم: نهه ژبنی لیکنې
لیکوال: عبدالودود بشریار
abdul_wadood68@yahoo.com
Name: Nine Linguistic Articles
Writer: Abdul Wadood Basharyar
حمل ۱۴۰۳ – د انسان مجلې له اوومې گڼې سره هممهاله
April 2024, Publishing with 7th Edition of INSAN Magazine

کتاب نوم: نهه ژبنی لیکنې
لیکوال: عبدالودود بشریار
کمپوز: مطیع الله وطنمل
د کمپوز بیاکتنه: اسماعیل ځپه
د خپرونو لړ: لومړی
د مخونو شمېر: ۷۰
خپرونکی: انسان مجله
د لیکلو کال: ۲۰۱۱ز – ۱۳۹۱ هـ، ل

**ځانگړی دفــتر**

دا د ژبو په تړاو د نهو لیکنو یوه ځانگړې ټولگه ده چې د انسان مجلې له اوومې گڼې سره هممهاله خپرېږي.

ketabton.com - The Digital Library

## لړلیک

د ځوان بشریار پاخه کارونه/ یادښت ........ ب
مخنۍ خبرې/ د لیکوال سریزه ........ ج
ژبې څنګه رامنځته شوي او څنګه وده کوي؟ ........ ۱
پښتو - پارسي فونیمي او ګرافیمي انډولونه ........ ۸
پارسۍ کې پورويي ........ ۱۵
خارګ ډبرلیک ........ ۲۴
ولې یوویشت؟ ........ ۳۲
وردګ او وردګي ګړدود ........ ۳۵
شنیځ - د پښتو یو زوړ ویی دی ........ ۴۳
آس او متلونه ........ ۵۰
پښتو متلونو کې متلي آتلان ........ ۵۸

ketabton.com - The Digital Library

## ټړون

د هر هغه چا په نامه چې د پښتنو په شان مظلومو انسانانو د غمونو د کمولو او سوکالۍ لپاره یې لږ تر لږه یو کوچنی ګام اخیستی وي.

**درنښت**

ketabton.com - The Digital Library

# د ځوان بشریار پاخه کارونه

کـه وروسـتیو څـو لسـیزو دې هېـواد تـه بدمرغـۍ او جنګونـه راوړل تـر څنـګ یـې پښـتانه او پـه ځانګـړي ډول ځـوان کهـول ویـښ کـړ. د خپلـې ژبـې د خدمـت او چوپـړ لپـاره یـې ملاوې وتړلـې. ځینـې یـې د نـورو ژبـو نـه ژباړې کـوي او څـه یـې خپـل اثـار خپـروي خـو پـه دې ډګـر کـې یواځینـی او سـتونزمن کار چـې تـر اوسـه ورتـه ډېـر د پـام وړ کار نـدی شـوی، هغـه ځېړنـه ده؛ ځکـه څېړنـه لـه یـوې خـوا پـوره پوهـه، مالومـات، زغـم او سـاړه ماغـزه غـواړي او دا د هـر ځـوان لـه وس نـه پـوره نـده.
ښـاغلی بشریـار لـه هغـه وخـت نـه پېژنـم چـې لا تنکـی ځـوان و، لـه همداسـې سـتونزمنو او څېړنیـزو مسـایلو سره یـې ډېـره علاقـه درلـوده او اوس یـې پـه پـوره پوهـې او مسـلکي ډول سره پـه دې ډګـر کـې ګام ایښـی دی او ډېـر کتابونـه یـې د خپریـدو لارې څـاري. د پښـتو ژبـې پـر هغـو اړخونـو یـې کار کـړی دی، چـې تـر اوسـه ورتـه د پـام وړ کار نـدی شـوی، کیـدای شي دا پـوره او بشـپړ نـه وي خـو د نـورو څېړونکـو لپـاره یـې یـوه لار پرانېسـته لکـه د داسـې لغاتـو مختـه کـول چـې پـه ورځنـي ژونـد کـې ډېـر نـه کارېـږي خـو د پښـتون تېر تاریـخ ور پـورې تړلـی او د نـړه ژبـې څـرک پکـې لګېـږي، لکـه شنیځ چـې د دې کلمـې پـه څېړنـه کـې یـې پـوره زیـار ایسـتلی دی. د دې تـر څنـګ پـه پښـتو ژبـه کـې ډېـر زیـات متلونـه ویـل شـوي دي، یـو څـه یـې پـه کتـابي بڼـه خپـاره شـوي دي خـو هغـه ډول متلونـه چـې د اشـخاصو، سـیمو او تېرونـو نومونه پکـې اخېسـتل شـوي وي، د هغـو د کرکټرونـو پـه اړه څېړنـه نـده شـوې او مونـږ تـر اوسـه خپـل پښـتني فولکلـوري اتلان نـه پېژنـو، چـې ښـاغلي بشریـار دغـه خلکـو تـه د متلي اتلانـو نـوم ورکـړی دی، چـې دا پـه پښـتو ادب او ژبـه کـې یـوه نـوې اصطلاح او زیاتونـه ده. کـه ښـاغلی بشریـار خپلـو څېړنـو او لیکنـو تـه همداسـې دوام ورکـړي، لېـرې نـده چـې نـوم او کارونـه بـه یـې پـه لـره او بـره پښـتونخوا کـې نـور هـم وځلېـږي. پـه پـای کـې ستر څښتن تـه لاسـونه لپـه کـوو، چـې نومـوړي تـه ډېـر عمـر او ښـه روغتیـا ور پـه برخـه کـړي.

پـه درنښـت
امروز خان ساپی

ketabton.com - The Digital Library

# مخنۍ خبرې

کایناتو کې هر څه د یو قانون له مخې رامنځته شوي دي.
د هـرې ښـکارندې (پدیـدې) تـر شـا یـوه قانونمنـدي پرتـه ده، چې پـه لټون او پېژندنـه یـې انسـان دا وړتیـا پیـدا کـوای شي، چې ښـکارنده پـه ولکـه کې راولي او یـا هـم خپـل چلنـد ورسره وټاکـي. کلـه چې پوهانـو د طبیعـي پېښـو او چاپېرچـل کـې د موجـودو څیزونـو تـر شـا د حاکـم قانـون لټـون پیـل کـړ او ځینـي نسـبي قوانیـن یـې ومونـدل نـو طبیعي ښـکارندې یـې تـر یـوه بریـده پـه ولکـه کـې راوسـتې. ځیرک انسـانان اوس هـم د کایناتـو پـر پېژندنـه، ولکـه او تـرې پـه ګټـه اخېسـتنه فکـر کـوي او هلـې ځلـې کـوي، چې د پوهـې او حکمـت پـه مـټ د هـر څـه قانونمنـدي ومومـي تـر څـو یـې مدیریـت کـړای شي او د انسـاني ښـه مـرغ او سـعادت لپـاره تـرې ګټـه پورتـه کـړي.
کـه لـه هغـو طبیعي ښـکارندو چې د انسـان لـه شـتون نـه وړانـدې هـم شـته وې، راتېـر شـو او پـر هغـو څیزونـو چې شـتون یـې د انسـان لـه ذات سره تړلـی، کتنـه وکـړو نـو لـه هغـه مهالـه تـر اوسـه یـې د ځینـو نـورو ترڅنـګ، مهمترینـه لاسـته راوړنـه ژبـه ګڼـای شـو.
ژبـه کـه څـه هـم اوس د پوهـاوي راپوهـاوي، ګـډکار[1]، ګډنوښـت[2] او اړیکـو[3] غـوره وسـیله ګڼـل کېـږي، خـو کـه د فلسـفې، سیاسـت، تاریـخ، سـاپوهنې، اقتصـاد او نـورو پوهنـو پـه سترګیـو ورتـه وګـورو، پـه ژبـه کـې د انسـان پـه اړه ډېـر رازونـه نـور هـم پراتـه دي چې تـر اوسـه لا ډېـر وګـړي تـرې خبر نـدي، ژبـه د انسـانانو کلتـور دی، ژبـه د یـو

1 Collaboration
2 Co-creation
3 Communication

ketabton.com - The Digital Library

ولس فلسفه ده، ژبه د یوې ټولنې ساپوهنه (سایکولوژي) ده؛ ژبه د یو ملت تاریخ او سیاست دی. لنډه دا چې ژبه د انسان لوړې ژورې او د تېر مهال انځور او ټول ژوند دی. لکه مخکې چې مو ورته اشاره وکړه په کایناتو کې هره ښکارنده د ژوند یو قانون او راز ښیي، همدغسې د ژبې یو کوچنی ګړ (مورفیم) او ویی هم کوای شي، چې یو راز څرګند کړي او ښایي د یوې پوړۍ په شان یې د پرمختګ ګام هم وګرځي.

که څه هم زیاتره وګړي د ژبنیو مسایلو څېړنو ته ډېر اهمیت نه ورکوي، بابېزه یې ګڼي، په یوویشتمه پېړۍ کې پر ژبنیو مسایلو وخت تېرول ورته چټیات ښکاري او وایي چې انسان ته اقتصادي ګټه نه رسوي؛ دوی ملامت ندي ځکه اصلاً د ژبې له رازونو خبر نه دي او پر دې نه پوهیږي چې څنګه د یو قوي او سیال ملت د پرمختګ او هوساینې جرندې/قلفونه د ژبې په کونجۍ/کیلۍ پرانېستل کیږي. او د ژبې بې چاره ګي، کمزوري او له پامه غورځېدل څومره د یو ملت وګړي لا چاره کوي، ضعیفوي یې او هان څومره یې د بنسټیزو حقونو د پایمالیدو سبب ګرځي. فکر کوم چې له پښتون ملت سره تر ټولو لویه دوښمني دا شوې چې خپله ژبه تري اخېستل شوې، ګونګی کړل شوی، کوڼ کړل شوی او ړوند کړل شوی دی. که د پښتنو پاچاهانو پښتو زده وای، پښتون سره یې لکه د پښتون خبرې کوای شوای، د پښتون ذهنیت پر غوښتنو، دردونو، خوږو-ترخو، ګیلو - ګزارو او د پښتون ملت پر نزاکتونو، باریکیو او فلسفه پوهیدای او هغه ته یې د پښتونوالې احساس ورکړی وای او خپله په پښتونواله پوهیدای نو نن به دا لوی ملت دومره در په در او خاورې پر سر نه وای!

همداشان که په خپله ژبه یې ورته د پوهنې زمینې مساعدې کړې وای، ادارو کې یې ورته په خپله ژبه خدمات وړاندې کړي وای، روغتون کې یې ورته په پښتو روغتیایي لارښوونې ورکړې وای، په خپل وطن کې یې په خپله ژبه ورته راکړه ورکړه هڅولې وای، له پښتونوالې یې بې کاره او بې ګټې دودونه په مهارت سره ایستلي واي ...نو ښایي پښتون ملت به نن دومره سرګردانه او خوار نه وای که هیڅ هم نه وای لږ تر لږه خپل پوهنیز، روغتیایي، سیاسي، اقتصادي او... بنسټونه خو به یې درلودای چې د دوی د ښه ژوند، ښه مرغ او هوساینې اهداف یې پاللي وای. دا چې له څو زره کلونو راهیسې پښتون لا هم له ظالمو یرغلګرو او چپاولګرو سره په پرله پسې اخ و ډب کې ژوندی پاتې او لا هم د روسیې او چین تر څنګ د یو لوی او سیال ملت جوړیدو شیمه پکې شته، دا د پښتون ملت د پاشلو، خال - خال

ketabton.com - The Digital Library

او نومورکو مبارزینو د هڅو او خپله د سرګردانه پښتونوالي برکت دی، کنه سیاسي مشرانو خو تر سل میلیونه ډیر پښتون ملت مخکې له مخکې په سپینو پونډیو، خانیو، ملکیو، جاګیرونو، ښارګوټو او ځانساتنو خرڅ کړی دی.

په هر صورت بېرته خپلې خبرې ته راګرځم، که د یوې ژبې زرګونه یا لکونه کلمې راواخېستل شي او د هرې کلمې جوړښت، کارول، زړېدل او له کاره غورځېدل په پوهنیز ډول وڅېړل شي له ډېرو رازونو پردې پورته کېدای شي. همداشان د ژبې د کلمو د رامنځته کېدو او بیا د کلمو ترمنځ په غونډونو (عبارتونو)، همدغسې په فقرو او بیا په جملو کې د دوی اوډون او همداشان د وییو ریښوي او ګړنیزې (اصطلاحي) ماناوې وڅېړل شي له یوې خوا مونږ له پخوانیو فکرونو خبروي، له بلې خوا د لیک په مټ سباني انسان ته د نني انسان د تجربو، پوهنو او فکرونو په سم لېږد کې هم مرسته کوای شي.

همداشان د مصنوعي هوښیارۍ په دې انقلابي پېر کې د پښتو ژبې باریکۍ سپړل او څېړل پښتو ته دا شیمه ورکوي چې د نړۍ له نورو سیالو ژبو سره په کتار کې ودریږي.

همدغسې ژبڅېړنې دژبزده کړې په برخه کې ځینې دودونه (قوانین) او نرخونه هم راسپړي، چې له دې سره په ژبزده کړه کې اساني رامنځته کېږي او خلک په اسانۍ یوه او بله ژبه زده کوای شي.

څنګه چې ورځ په ورځ نړۍ کې مفاهیم او ماناوې ډېرېږي، نو د دغو مفاهیمو او ماناو د څرګندونې لپاره نوې نښې او ویې هم په کار وي، مونږ د داسې اړتیاو د پوره کولو لپاره اړ یو چې د خپلې ژبې پر ډېرو وړو اړخونو هم څېړنې وکړو چې سباني او نني کهول ته داسې څه ورکړل شي چې سبا او نن هغوی د نوو مفاهیمو او ماناو د څرګندونې لپاره ترې د بنسټ په توګه کار واخېستای شي.

همداشان د ښو هنري او علمي اثارو د رامنځته کولو لپاره د ژبې پر بېلا بېلو اړخونو څېړنې اړینې وي. په نوره نړۍ کې د ژبې یو ویی څو څو ډوله څېړل کېږي او پر یوه وړه ژبنۍ مساله څو - څو لیکنې کېږي خو له بده مرغه په پښتو کې لا پر ډېرو مهمو ژبنیو مسایلو هم لیکنې نه لیدل کېږي.

په دې ټولګه کې مې خپلې ډېرې پخوانۍ او اوسنۍ لیکنې چې په یو نه یو ډول له ژبې سره تړاو لري راټولې کړې دي. هغه لیکنې چې دلته راغلي، په لاندې ډول دي:

ketabton.com - The Digital Library

**۱. ژبې څنګه رامنځته شوي او څنګه وده کوي؟**

کـه څـه هـم، د دې لیکنـې یـوه برخـه مـا ډېـره پخـوا لـه «ورلډبـوک انسـایکلو پیډیـا» ژباړلـې وه؛ خـو دې وروسـتیو کـې راڅخـه دومـره زیاتونـې او تازه‌والـی پکـې وشـو چـې ښـایي اوس یـې ژبـاړه ونشـم ګڼـای. پـه دې لیکنـه کـې د ژبـې د رامنځتـه کېـدو او د ژبـې پـر وده او پراختیـا خبرې شـوي او د پښـتو ځینـي ویـي چـې لـه طبیعـي غږونـو څخـه رامنځتـه شـوي؛ پـرې هـم ور ډېـر شـویدي.

**۲. پښتو - پارسي فونیمي او ګرافیمي انډولونه**

دې لیکنـه کـې د پښـتو او پارسـۍ پـر یـوآرو[4] وییـو خبرې شـوي او ځینـي پښـتو او پـارسي ویـي چـې ګـډې ریښـې لـري پـه ګوتـه شـویدي.

**۳. پارسۍ کې پورویي**

دا لیکنـه مـې هـم لـه یـوې پـارسي پښـویې (ګرامـر) ژباړلـې وه، خـو وروسـته پکـې رانـه دومـره زیاتونـې وشـوې چـې اوس ورتـه حیران یـم چـې ژبـاړه ورتـه ووایـم او کـه ځانګـړې لیکنـه. همداشـان دې لیکنـه کـې پـر پـور ژبـاړه چـې پـه پښـتو کـې یـې پـه اړه ډېـر مـواد نـه تـر سترګـو کېـږي، یـو څـه رڼـا اچـول شـوېده.

**۴. خارګ ډېرلیک**

تـر دې سرلیـک لانـدې پـه پـارس خلیـج کـې د خـارګ ډېرلیـک اړونـد څـه مالومـات لـه ځینـو یادونـو سره یـو ځـای راوړل شـویدي.

**۵. ولې یوویشت؟**

دې لیکنـه کـې پـر دې چـې پښـتو کـې ولـې لـه شـلو وروسـته «یوویشـت» ویـل کېـږي او ولـې د (یودېـرش، یوڅلوېښـت، یوپنځـوس، یوشـپېته، یواویـا، یواتیـا، یونـوي...) پـه څـم (یوشـل) ویـل ناسـم برېښـي، خبرې شـوېدي.

**٦. وردګ او وردګي ګړدود**

دې لیکنـه کـې د میـدان وردګ ولایـت او وردګـو پـه اړه مالومـات وړانـدې شـوي او تـر څنـګ یـې د وردګـي ګـړدود یـو څـو ویـي هـم ښـوول شـویدي.

**۷. شنیځ - د پښتو یو زوړ ویی دی**

دې لیکنـه کـې د ( شـنیځ ) ځاینـوم پـر ریښـه او جوړښـت څېړنـه شـوې او پـه پښـتو

[4] cognates

ketabton.com - The Digital Library

ترنگونو[5] کې «شین» ویې ښوول شویدی.

**۸. آس او متلونه**

دا لیکنه ډېره په فولکلور او بیا په فولکلور کې په متل پوهه[6] او متل لیکنه[7] اړه لري، خو ما په دې خاطر چې آس پر پښتو ژبه څومره اغېز کړی او څومره متلونه یې پښتو ته ورکړي دي؛ دې ټولګه کې راوړې ده.

**۹. پښتو متلونو کې متلي آتلان**

دا لیکنه هم په متلونو پورې اړه لري او باید په متلپوهه کې وڅېړل شي خو ما په دې خاطر چې متلي آتلان د ژبې سمبولیک ویې ګرځېدای شي او ښایي چې د متلونو تر څنګ نور فولکلوري څېلونو (ژانرونو) کې هم د ژبې د ښاینې لپاره توکي ولټول شي؛ دلته راوړې ده.

دا لیکنې که څه هم ټولې پریوه ټاکلې موضوع ندي، خو بیا هم ملګرو هڅولی یم چې خپرې یې کړم. زه نه وایم چې دا به ډېرې پخې او مالومات به یې په اصطلاح د کاڼي کرښې وي، خو که مظلومې پښتو او مظلوم پښتون ته یې له یوه توري هم ګټه ورسیده او یو څو نوي ټکي او ماناوې یې پکې ور زیات کړل نو دا به هم لویه توره وي، نور نو دا تور توتان له پښتو قربان!

**ښادي مو غواړم**

عبدالودود بشریار

5 compound
6 Paremiology
7 Paremiography

ketabton.com - The Digital Library

# لومړی

## ژبې څنگه رامنځته شوې او څنگه وده کوي؟

ژبه[8] د انسانانو تر منځ د اړیکو بنسټ دی. له څېړنو ښکاره شوې، چې مرغان او ژوي هم مانادار غږونه وباسي. خپل ډار، خوښي او هیله مندي د چونگېدو، غپېدو، او سونگېدو له لارې څرگندوي. خو انسانانو غوندې خپل افکار په ژبه نشي ویلای؛ ځکه انسانان کابو ټول هغه څه چې احساسوي یې او یا یې فکر کوي، څرگندوای او ویلای شي.[خو اوس هم د پښتو په گډون، ځینو ژبو کې ډېر داسې څه شته چې انسان یې د بیان او اظهار لپاره ویي، غونډونه او اصطلاحات نلري.]

ژبه د انځور یا مېز په شان بشپړ څیز نه دی، بلکې تل د بدلېدو په حال کې ده. د وخت په تېرېدو سره پکې نوي ویي رامنځته کېږي او زاړه له کاره غورځي. د جملو اوډون او گرامري نرخونه (گرامري قواعد) یې هم بدلون مومي. د بېلگې په ډول چوسر په ۱۳۰۰ زېږدو کلونو کې په انگرېزۍ کې «د کینټربري نکلونه»[9] په

---

8 دا لیکنه د (ولډبوك اف انسایکلوپیډیا) دپوهنغونډ د ژبې له لیکنې څخه، چې یو امریکایي لیکوال (رابرټ شېفر) لیکلې، رالنډه شوې ده.که څه هم دا لنډیز د ژبې د رامنځته کېدو په اړه سرسري او زاړه مالومات لري، خو بیا هم تازه لوستوالو ته ډېر څه ورکولای شي. ما کوښښ کړی چې د ژباړې تر څنگ زیاتوونې پکې وکړم، او هغه مالومات چې اوس نا سم گڼل کېږي ترې وباسم او د پښتو ژبې اړوند ځینې ټکي هم پکې ور ډېر کړم.

9 The Canterbury Tales

ketabton.com - The Digital Library

نامه یو کتاب لیکلی، خو د هغه او اوسمهالي انګرېزۍ ترمنځ ډېر توپیر راغلی، نن سبا د هغه پر انګرېزۍ ډېر لوستوال سم نه پوهېږي.[ ویل کیږي چې چوسر Chaucer په ۱۳۴۲\۱۳۴۳ زیږدي کال د انګلستان په لندن ښار کې وزېږېد او پر ۲۵ اکتوبر ۱۴۰۰ زیږدي کال ومړ. دی له شیکسپیر نه وړاندې د انګرېزۍ ژبې لوی شاعر بلل کېږي. ده پرشاعرۍ سربېره نثر هم لیکلی دی. نوموړی لومړنی انګرېز لیکوال اوشاعر دی، چې د انګلستان جنوبي ګړدود ته یې د انګلستان د ادبي ژبې بڼه ورکړې ده.]

ژبه کسبي[10]وسیله ده، کله چې ماشوم نوی پیداشي، خبرې نشي کولای او اړتیاوې یې لږې وي. تر ډېره بریده، خپلې اړتیاوې، په ژړا پوره کوي خو څومره چې ماشوم لویېږي، اړتیاوې یې ډېرېږي او اړ وځي، چې د پوره کولو لپاره یې ډېرڅه ووایي [او د څرګندونې لپاره یې نوي ویي، غونډونه او څرګندنې... زده کړي.] کله چې ماشوم غږېدا پیلوي، غږونه یې محدودې ماناوې ورکوي خو وروسته، وروسته د یو یا څو څیزونو بېلابېلې ماناوې زده کوي.

[زما د شخصي کتنې له مخې یو پښتون ماشوم تر ټولو لومړی «به»، «نه»، «اغه»، «اکه»، ...په شان وړې او هغه ته اړینې کلمې زده کوي. په لومړیو کې ماشوم په بشپړ ډول کلمې تلفظ کولای نشي او په لنډ ډول یې وایي. همداشان په لومړیو کې د ماشوم ذهني ژبه[11] ډیره محدوده او وړه وي. د ساري په ډول] په هغو وییو کې چې ماشوم یې لومړی زده کوي، د «سپي» یا « dog» ویی شامل ګڼل کیږي. ډېر کوچنیان په اول کې ګومان کوي چې ټول څلور بولي ژوي سپیان دي، خو وروسته پوهېږي، چې یوازې یو ځانګړي ډول ژوي ته سپی وایي او نور «غوا» یا «پیشو » ګڼل کیږي.[ زما د یو کال، نهه میاشتو او دیارلس ورځو وړوکې زوی هرې کلوله مېوې: مڼې، مالټې، کینو، فروټر، امرود، انار.. ته «مانه» یا «منه» وایي او پر ټولو د مڼې ګومان کوي خو اوس یې ایله-ایله د انار لپاره د «اناچ» او «انن» ویل زده کړي دي.] همدا د ماناو په زده کړه [ او د ذهني ژبې په پراختیا ] کې لومړی ګام بلل کیږي.

[ د ماشوم د نوې ژبزدکړې په برخه کې مې خپل واړه زامن او لونې تر کتنې لاندې نیولي ول، پایله کې را څرګنده شوه، چې دوی لومړی نومونه زده کوي، دوی اوږده جمله لنډه وایي، ادات سم نشي کاروای، د فعل کارول ورته هم ګران وي او

10 Artificial

11 langue

ketabton.com - The Digital Library

ځینـي غږونـه نشي ویلای. لانـدې یـې یـو څـو سـاري راوړم:

۱. به اکه (اوبه راکړه)
۲. کتا شو (ختا شو.)
۳. لالا بایل ( لالا موبایل راکړه.)
۴. دغـه نـې – پاپـا ( دغـه کارتـون نـه غـواړام – جـاني جـاني – یـس پاپـا کارتـون غـواړم.)
۵. لالا دې ما پاپی.( لالا زما پاپی یې پښو کړي.)
۶. تا پیاله ولم. (تا په پیاله ولم.)
۷. لالا دا (لالا دا وګوره وهي مې.)
۸. د تا بوټان پټ (ستا بوټان یې پټ کړي.)

لـه بـده مرغـه پـه دې برخـه کـې چـې پښـتون ماشـوم، څنګـه ژبـه زده کـوي، کـوم ځیزونـه ورتـه ګـران وي، کـوم ورتـه اسـان، څـه لومـړی زده کـوي او څـه وروسـته؛ هیـڅ څېړنـه نـده شـوې.]
ورو، ورو ماشـومان پـر دې هـم پوهېـږي چـې ځینـې مهـال یوشـان غږونـه بېلابېلـې مانـاوې ورکـوي. دوی پوهېـږي چـې د انګرېـزی «fall» غورځېـدو او همـدا«fall» منـي (خـزان) تـه هـم وایـي. ماشـومان د وخـت پـه تېرېـدو سره ډېـر څـه زده کـوي، خـو دا ټـول کسـبي دي...
لیکنـی ژبـه هـم لکـه د ګړنـی غونـدې کسبي وي. د ژبـو (البېخـې) پـه بشـپړ ډول د هغـو نښـو ټولګـه وي چـې د ژبـو د غږونـو د ښـوولو لپـاره کارېږي.کـه غوښـتل شـوي وای نـو ABC د درې ګوټېز(مثلـث)، څلـور ګوټیـز (مربـع) او مسـتطیل پـه بڼـو هـم ښـوول کېـدای شـول او لـه دې سره بـه پـه ژبـه کـې هیـڅ تـوپیر هـم نـه وای راغلی!

**ژبې څنګه منځته راغلې؟**

دا چـې ژبـې څنګـه منځتـه راغلي او انسـان پـه لومـړي ځـل څنګـه خبرې پیـل کـړې، پـه اړه یـې څـو نظریـې موجـودې دي. د ژبـو ځینـې څېړندویـان پـر دې انـد دي، چـې پـه لومړیـو کـې انسـان د چونچونـو او ژویـو پـه څېـر غږونـه ایسـتل... [د ژبپوهنـې ځینـې پوهـان د ژبـې د رامنځتـه کېـدو پـه اړه وایـي چـې کلـه انسـان پـه طبیعـت کـې ازاد ګرځېـده، نـو خپـل چاپېرچـل کـې بـه یـې د ځینـو ځیزونـو د غږونـو پېښـې او پیروي کولـه، چـې د وخـت پـه تېرېـدو سره دغـه پېښـې پـه وییـو واوښـتې. د دې نظریـې پـه بنسـټ پـه پښـتو ژبـه کـې هـم ډېـر ویـي همداسـې رامنځتـه شـوي دي. د سـاري پـه ډول:

ketabton.com - The Digital Library

پښتو کې کارغه (نورې بڼې يې:کاغۀ، کاغی، کناخ ...) د نوموړي له غبږ (کاغ، کاغ) نه، د چونچونې ويی د (چونږ ياچنږ-چنږ) نه، د کوړکې کلمه د چرگې له غبږ (کوړت يا کړت) نه، او د بنگېدا ويی د مچ له (بنگ، بنگ)، کرکړې له (کړ-کړ)، ځينگښه (چونگښه) له (ځينگ، ځينگ يا چونگ-چونگ؟) نه رامنځته شوې دي.
د حيواناتو په نومونو سربېره د کړتو، بنگېدل، بنگهار، بنگس، بنگېدا، گړېدل، گړول او نور ډېر ويي پښتو کې د چاپېرچل (طبيعت) په پېښو جوړ شويدي.
په پارسۍ کې، مگس ويی (د مچانو له اواز، بنگس).... ځخه هم په دې ډول رامنځته شوی دی.
د انگرېزۍ په مورينه ژبه (انگلوساکسون) او اوسمهالې انگرېزۍ کې د Cackle (کرکړو)، Buzz (بنگهار) او نور ډېر ويي د طبيعي اوازونو په پيروۍ جوړ شوي دي. او دا ويي د انسان د هغه وخت د ژوند يادگاري کيسې کوي، چې په ازاد طبيعت کې به د نورو حيواناتو په شان گرځېده.[12]]
[د پښتو ژبې «سا» چې د روح لپاره کارېږي، ډېره پخوانۍ ښکاري. ښايي چې دا ويی د اوسنۍ انگرېزۍ له سای/ sigh چې د «اوسېلي» مانا ورکوي، سره يو آری وي او د انگريزۍ ويی هم په پخوا وختونو کې د روح لپاره کارېدلی وي.
دې وييو کې هم د هوا مانيزه ريښه پټه ده. زه خو فکر کوم چې دا به د هوا اخېستو له طبيعي غبږ «هه/ سه» ځخه راوتلې وي. کله چې سړی اکسيجن اخلي نو دغه اواز په ښه ډول اورېدای شي. ښايي چې دې اواز به وروسته د (سا، ها، سای) بڼې خپلې کړې وي.
يوه بله خبره هم بايد ياده شي، چې د پښتو ژبې «اگۍ/هگۍ» چې د انگرېزۍ ژبې له اگ egg سره يوآرې ده او د ژوند تخم دی، په دوی کې هم دا ريښه پټه وي.
همدغسې د پښتو خوټه ”هاټه“ ويي کې هم د (سا، ها...) ريښه نغښتې ښکاري. د دې ټولو وييو سروکار له ژوند او ژوند ورکولو سره دی، چې بيا هم د روح دوديزې مانا ته ورگرځي او ريښه يې د پښتو ”سا/سه، ها/هه“
ته رسېږي.[13]]

د ژبې په اړه ډېرو پوهانو نورې نظريې هم وړاندې کړې دي.
خو په ډېرگومان ژبه د يو تړون او پلان له مخې [يو ځايي] نده رامنځته شوې[14]

۱۲ عبدالودود بشريار ، روح - يوه ژبنۍ څېړنه
۱۳ عبدالودود بشريار ، روح - يوه ژبنۍ څېړنه
١٤ په اسماني يا ابراهيمي دينونو او اساطيرو کې ژبه يوه الهيdivine ورکړه گڼل شوې ده.

ketabton.com - The Digital Library

بلکې د انسان له اړتيا سره جوخته منځته راغلې ده او اوس هم، همداسې پرمختګ کوي...اوسمهالې ژوندۍ ژبې له هرې خوا پوره ندي، ځينې خيالات پکې په سختۍ او ځينې پکې په اسانۍ ويل کېدای شي او ځينې پکې د ځرګندونې او ويلو څو-څو لارې او ګودرې لري...[ژبه کې د زياتره وييو شتون يا نشتون د ژبې د ويونکو په چاپېرچل، اړتيا او د دوی د ژوندانه په ځينو نورو اړخونو پورې اړه لري.]

**ژبه څنګه وده کوي؟**

د ژبې پر، وده او پرمختګ ډېر څيزونه اغېزکولای شي. جګړې، سوداګري او د وګړيو له يوځای نه بل ځای ته کډوالي (مهاجرت) ژبې ته وده ورکوي او يا يې وژني.

يو مهال د رومي امپراتورۍ ژبه (لاتين) د جنوبي او لويديزې اروپا پر پراخه سيمه واکمنه وه. رومي پوځيانو له ځان سره هغو سيمو ته وړې وه، چې د دغې امپراتورۍ لپاره يې نيولې وې، خو کله چې دغه امپراتوري د شمال ختيز لخوا د بريدګرو په لاس کښېوته او واکمني يې پای ته ورسېده، نو کابو لاتين ژبه هم مړه شوه او اوس يوازې په رومي کاتوليک کليسا، د درملو لپاره د نسخو په ليکنه، د بوټو او حيواناتو په نوموونه کې کارېږي.

په شمالي امريکا کې لومړني مېشت شوي يرغلګر انګرېزان ول؛ له دې امله انګرېزي د امريکا د متحده ايالتونو ژبه وګرځېده.

همدغسې په لاتيني امريکا کې هسپانويان لومړني مېشتېدونکي يرغلګران ول، نو د هغوی ژبه(هسپانوي) هم له دې امله د جنوبي امريکا پر ډېرو هېوادونو واکمنه شوه.

امريکايي، بريتانوي او کاناډايي سوداګران د نړيوالې سوداګرۍ ډېره برخه په لاس کې لري، له همدې کبله د نړۍ په ډېرو سيموکې انګريزي پراختيا مومي او د ډېرو هېوادونو دويمه ژبه ګرځېدلې ده...

د بېلابېلو وګړيو ترمنځ اړيکي ژبه بډايوي. د ساري په ډول په ۱۰۶٦زېږدي کال کې، پر انګلستان د (نارمن پرانسيانو) له يرغل نه وړاندې انګرېزي د (انګلو ساکسون) يو ګړدود و. (نارميان) په پرانسې (فرانسوۍ) ژبه غږېدل. ورو، ورو (نارمن پرانسې) او (انګلو ساکسون) سره ګډې شوې او د انګرېزۍ لويه برخه ترې جوړه شوه. په (انګلو ساکسون) کې د غوايي او غوښې لپاره يو ويی ''کاو Cow'' موجود و، خو پرانسې د (غوا) او (غوښې) لپاره جلاجلا ويي درلودل. غوښې ته يې ''بوف

ketabton.com - The Digital Library

boeuf" ویـل، همدغـه ویـی انگرېـزۍ تـرې پـور کـړ او خپلـه تشـه یـې پـه ډکـه کـړه.
همدغسـې ژبـه د نویـو ویـو د رغونـې لـه لارې هـم پرمختـګ او وده کـوي... (پـای)

ketabton.com - The Digital Library

**اخځونه:**

1. Shazad, K. (2011). Language and Linguistcs on Target. New Kitab Mahal, Lahore.
2. Field Enterprises Educational Corporation (1960). Language. The World Book Encyclopedia.
3. Online Etymology Dictionary. (n.d.). Retrieved February 1, 2010, from https://www.etymonline.com/
٤. بشريار، عبدالودود. روح - يوه ژبنی څېړنه. کابل: ليکنه - ناچاپ
٥. بشريار، عبدالودود. پخوانی مصري تمدن. کابل: ليکنه – ناچاپ

ketabton.com - The Digital Library

## دویم

# پښتو- پارسي فونيمي او گرافيمي انډولونه

په سر کې له گران استاد ډاکتر مجاور احمد زيار څخه مننه کوم، چې له ډېرو بوختياو سره، سره يې راته د سمون لپاره څو يادښتونه راوليږل.
دا ليکنه مې په پارسي او پښتو وييو کې د غږيز (فونيمي) بدلون د ښوولو لپاره کړې او هڅه مې کړې وه چې د پارسي او پښتو يوآري ويي چې په لږ- ډېر غږيز بدلون سره په دواړو ژبو کې ژوندي دي، په گوته کړم.
په هر ډول، ښاغلي استاد راته د ليکنې لپاره پخې لارښوونې وکړې او يادښتونو يې لا، لار راسيخه کړه. زه سوچ کوم، چې د ښاغلي استاد يادښتونه له آرې ليکنې څو ځله ډېرگټور دي، چې وروستي يادښت يې د دې ليکنې په لومړۍ برخه کې کټ مټ او ليکنه په دويمه برخه کې راوړم.
يو ځل بيا له گران استاد ډاکتر مجاور احمد زيار څخه مننه کوم،کور يې اباد او زوی يې لوی. هيله ده چې تر ډېره وخته يې پرمونږ سيوری اوسي!

ketabton.com - The Digital Library

**د ډاکتر مجاور احمد زيار يادښت:**

گران پښتونځار[۱۵] در ځار شم،

مـا بـه وبښـې چـې ورتـه کار، خـو پـه نـوې پوهنيـزه بڼه "پښـتو اېټېمولوجـۍ" راڅخـه ځـواب در وځنـډاوه. مـا هـم پـه دې موخـه چـې د ژبپوهنـې زده کـړه خپلـه ځانگـه وگرځـوې، نـه پـه دې هيلـه چـې ژبپوهنـه لـه پښـتو ځـار کـړې او يـا سرچپـه، نـو بيـا مـې هـم لـږ و ډېـر وخـت در ځـار کـړ!

غږپوهـه او آرپوهه(اېټېمولوجـي) د ژبپوهنـې لـه خـورا پېچلـو سـکالوو اوبيـا يـې لـه سـاينتيفيکو څانگـو گڼـل کېـږي. بـاور کـوې چـې پـرون مـې کـرۍ ورځ متـې يـو ويی (پسرلـی) وځېـړه او هغـه پـه دې چـې اسـتاد مورگنسـتيرن تـه پکـې -rl- نـادوده برېښـېدلي او بايـد اړونـد زوړ غـږ غونـډ rd يـې پـر /ړ/ اوښـتی وای!

دا د نـوې ژبپوهنـې لـه ابېځـې (الفبـې) څخـه چـې د نـړۍ پـه اوسـني ژبنـي پېـر کـې ۶۰۰۰ واړه ژبـې سره همزولـې دي. لـه سـاينتيفيک زبـاد پرتـه څـوک دا پرېکـړه نـه شي کـولای چـې دا تـوک لـه دې ژبـې هغـې بلـې تـه تللـی دی. دا پرتلـې پـه نـوې ژبپوهنـه کـې دومـره پامـوړې نـه بلـل کېـږي او کومـې چـې تراوسـه شـوې، يـوازې او يـوازې د بېلابېلـو ژبـو ترمنځ د جېنالوجيکـي او تايپولوجيکـي اړيکـو او ډلبنديـو پـه موخـو شـوې، نـه زمـوږ د زړو پښـتو پوهانـو غونـدې د لرغونپالنې(قدامـت پسـندۍ) پـه موخـه. لـه بـده مرغـه سـتا دا دوديـزه پرتلـه هـم د خـدای بښـلو دوديـزو اسـتادانو پـر پليونـۍ ټيـکاو لـري چـې وښـيې، پښـتو تـر پارسـۍ پخوانـۍ ده!

لـه دغـې تربـرې ژبـې سره زمـوږ پرتـه شـخړه "تاريخـي- جغرافيايـي" ده، هغـه درې زره کالـه وړانـدې لـه شمال‌ختيـځ (آريانـا) سـوېل لويديـځ تـه لـه ور لېـږدولي گـړدوده پرمختيـا مونـدلـې او لـه نـوي پېر (اتمـې زېـږدي پېـړۍ) سره لـه تاريخـي بريد "دشـت لـوط" نـه دېخواتـه راغځېدلـې، بې لـه دې چې خپلې لويديـزې فونېتيکـي ځانگړتيـاوې لـه لاسـه ورکانـدې، مانـا داچـې پـارسي زمـوږ د هېـواد لـه بومـي ژبـو څخـه نـه گڼـل کېـږي، بلکـې د پخواني پـارس او اوسـني ايـران بومـي ژبـه ده او دلتـه يـې يـوستر گړدود دی چـې پـه سـياسي درغلـۍ ورتـه د "يـوې جلاژبـې" پـه توگـه هسـې "دري" نـوم ورکـړ شـوی دی!

هرگـوره، داهـم د تاريخـي او پرتليـزې ژبپوهنـې او بيـا دواړو سـاينتېفيکو(غږپوهيزو او آرپوهيـزو) فارمولونـو پـه رڼـا کـې زبـاد تـه رسـېدلې چـې پـارسي د پښـتو لـه سـوېل- لويديـزو خپلوانـو ژبـو څخـه ده او پښـتو او(۱۲-۱۳) پـاميري ژبـې شمال ختيـزه آريـاني

---

۱۵ د ليکوال بل تخلص دی، چې اوس مې هم ځيني ملگري پر دې نامه پيژني او يادوي.

ketabton.com - The Digital Library

ډله رغوي. دغې پوهنیزه پرتله دا نه رازبادوي چې کومه یوه پکې مشره ده او کومه پکې کشره، بلکې دا راسپینوي چې د څلورګوني جغرافیایي ډلبندۍ له پلوه کومه، کومې ته زیاته نږدې ده او کومه د کوم هېواد بومي یا آره (اصلي) ژبه ګڼل کېږي او "ملي ترمینالوجي" یې ورپورې اړه لري!

داهم د ژبپوهنې یو آر دی چې د نورو په څېر زموږ په هېواد کې سم له لاسه ګردې ویل کېدونکې یاله منځه تلونکې (٤٧) ژبې "ملي" بلل کېږي، هماغسې چې ویونکي یې د همدې هېواد ښاروندان "افغانان" بلل کېږي!

د/ش ه šh-/ بېلګې سرچپه زباد شوې او یوازې د ځانته /ش/ داپر (ښار) سربېره نورې هم شته، لکه: بخشیدن- بخښل (ښښل)، نشان- نښان، پیش- پېښ، خویش- خپښ، خوش- خوښ،لاش- لاښ... .( دلته د کښل، کښې-، ښه، ښوول... د دواړو ژبو ګډ میراث زبادېږي)

همداسې "خ" هم درواخله. له پښتو پارسۍ ته ورغلي ویيونه هم زباد شوي، لکه: تېر، سم، غوشایي... په افغاني پارسي ګړدود کې هرګوره خورا ډېر دي.

دا هم پاسنیو پوهنیزو آرونو او فارمولونو رازباده کړې چې پښتو له غږیز پلوه ډېره اوښتون او بدلون منونکې او له پښوییز پلوه خورا ځنساتې (محافظه کاره). پارسي بیا سرچپه دریځ لري، پښویه یې لکه انګرېزي ساده شوې، ښځینه نوړی (جنس) اوداسې نور یې له لاسه ورکړي، خو پخواني آریاني غږونه یې ټینګ و ترینګ ساتلي، لکه (ګ-د- ب) چې پښتو او پامیري ژبو پر (غ- ل- و) اړولي دي. دا د هرې ژبې ځانتنی لارې رودې دي چې بېلابېل لاملونه پکې ونډه لري چې یو غوره لامَل د نورو ژبو اغېز دی، لکه واخلې پر پښتو د هندي ژبو دغبرګژبیزوالي (ټ- ډ- ړ- ڼ) او بې کچه ویيپانګیز ( لغوي) اغېز. داچې پارسي له فونېټیکي پلوه ځنساتې ده، ستا له راوړو بېلګو څخه دا دوې در څېرم:

د پښتو/ پ / د پاړسی پر /و/ اوړي لکه : خپل- خود} "خود" تر "خپل" پخوانی دی او آره یې aoto- ته رسي، لکه په اتومات کې؛ د "خدای"د ویي آره هم ao-tua- ده، زیار {

دپښتو/ ج/ د پاړسی پر /چ/ اوړي لکه : غوجل- یخچال ، پښتو (-چل) روستاړی هم لري، لکه په مورچل، چاپېرچل... کې}داد دواړو ژبو ګډ مال دی او یوبل ته یې د تګ سپیناوی ګران دی، زیار{

که تاد فونیم پرځای ګرافیم (توری) رامخته کړی وای او په دې تړاو د دواړو تربرو ژبو تر منځ په ګډو ویيونو او بیا نومونوکې لیکدودي توپیرونه، لکه: ګمان-ګومان،

ketabton.com - The Digital Library

کنر - کونړ، هلمند - هېلمند، آزادي - ازادي... ډېره بـه پـه زړه پـوري وه. هرگـوره، زبـاد شـوي گـډ انډولونـه تـش سره پرتلـه کـول دومـره ژبپوهنيـز ارزښـت نـه لـري، بـس دى چـې خـداى بښـلو "دوديـزو متنپوهانـو" پـرې خپلـې "فضـل فروشـى" کـړې دي!

پـه هـرډول، کـه بيـا هـم پـرې ټينـگار کـوې، نـو زمـا لـه دغـه يادښـت او سـمون او بېلگـې نيمـې سره يوځـاى خپـرولاى شـې او هغـه داسـې چـې بـې لـه شـننې د دواړو ژبـو نوملړونـه پرتلـه کـړې او ورمند (قضـاوت) د نـوې ژبپوهنـې ځانگوالـو تـه پرېـږدې!

**په ټوله مينه ستا زيار**

اکسفورډ - ۴/۱/۲۰۱۰

ketabton.com - The Digital Library

**لیکنه:**

# پښتو- پارسي فونيمي او ګرافیمي انډولونه

د یــــوې ځانګړې او یـا بیلابېلو ژبو پـه وییو (کلمـو) او ګــــــړونـــــو (مورفیمونو) کې د غبرونـو (فونیمونـو) بدلـون یـوه لویـــــه سکالو (موضـوع) ده، چې پـه ګړ-غبرپوهـې[16] پـورې اړه لـري او پـه آرپوهـه (اېټېمولوجـی) کـې هـم تـرې ګټـه اخېسـتل کیـږي.
د نـړۍ د ځینـو نـورو ژبـو پـه څېـر د آریایـي او بیـا آریـاني ژبـو پـه وییـو کـې هـم د وخـت پـه تېرېـدو سره ډېـر ادلون-بدلـون راغلی دی. د همدغـه بدلـون، پایلـه کـې لـه یـوې ژبـې نـه نـورې ژبـې زېږېـدلې، زړې ژبـې ورو، ورو مـړې شـوې او ځـای یـې لوېـو، خوینـدو او لمسـیو ژبـو نیـولی دی.
پښـتو او پـارسي خپلوانـې ژبـې دي. د تېـر مهـال پـه اوږدو کـې سره نـژدې پاتـې شـوې دي. د دواړو مونډ(ریښـه) د نـورو آریایـي او اروپایـي ژبـو پـه شـان ګـډې موریـنـې هنـد-یـورو یـا هندو-اروپایـي[17] ژبـې تـه او بیـا مخنـۍ هنـد-یـورو[18] ژبـې تـه رسـېږي.
دې لیکنـه کـې پـر دې یـو څـه رڼـا اچـوو چـې ځینـې پښـتو او پـارسي ویـي لکـه د نـورو آریـاني ژبـو پـه شـان، سره ډېـر نـژدې دي او مـازې د څـو غبرونـو[19] پـه بدلـون اوس هـم کاربـږي. ښـایي دا پرتلنـه د ځینـو پښـتو وییـو پـه کـره لیکنـګ کـې هـم څـه مرسـته وکـړای شي.
دلتـه یـې د بېلابېلـو غبرونـو تـوپیر د ښـوولو لپـاره هغـه ویـي سره پرتلـه کـوو چـې د پېړیـو پـه پوړیـو کـې سره د دغـو دوو ژبـو تـر منـځ ادل بـدل شـوي او یـا د دواړو ګـډه پاتـوړې (میراث) بلـل کېـږي:

| بدلون | پښتو | پارسي |
|---|---|---|
| [ا # هـ] | ښار، پار، شات | شهر، پهر، شهد |
| [و # هـ] | موره (مرۍ) | مهره |
| [ې # هـ] | مېلمه، څېره | مهمان، چهره |

16 Morphophonology
17 Indo-European
۱۸ Proto-Indo European: لـه (هنـدو-اروپایـي) ژبـې وړاندنـۍ ژبـه چـې پـه پوهنیـز او مصنوعـي ډول جـوړه شـوېده.
19 Phonemes

ketabton.com - The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| [پ #ب] | شپه، شپون (له آره /پسه بون/ ؤ او ښايي پارسي شبان کړی وي. زيار) | شب، شبان |
| [څ #چ] | هيڅ، څادر، څادري، څه، څلور | هيچ، چادر، چادري، چه، چهار |
| [ځ #ج] | رنځور، ځای، ځان، رنځ، ځنغوزي، ځار، ځنگل، پنځه، پنځوس | رنجور، جای، جان، رنج، جلغوزه، جار،جنگل، پنج، پنجاه |
| [ړ،ړه#رد] | ژړ(ژېړ، زېړ..)، سوړ (ساړه)، اوړه، چاړه، خوړل، وړل | زرد، سرد، آرد، کارد، خو ر د ن ، بـر د ن [ ر د # ړ ، ړ ه ] |
| [ز # د] | زړۀ، زوم | دل، داماد |
| [ژ # ز] | ژبه (زبه)، ژوند/زوند (-ون) | زبان، زنده (-گي) |
| [ږ # ش] | غوږ، شپږ، سږی | گوش، شش، شُشُ |
| [ږ # ژ] | ږلۍ | ژاله |
| [س # هـ] | لس | ده |
| [ښ #ش] | پښېمان، پښتو، ښور (- ول، -ېدل)، ښوروا، پښت | پشيمان، پشتو، شور(-دادن)، شوربا، پشت |
| [غ #گ] | غوا، غوسکی، غنم، غاړه، غوږ، غوښه | گاو ،گوساله ،گندم ،گردن ،گوش ، گو شت |
| [ک #س] | کال | سال |
| [ل #ر] | دېوال، لار، لره | ديوار، راه، را |
| [ل #د] | لم، پلار، لاس، لور، لرل (لرم، لري)، لېرې، ليدل، لور، لو، لمن، لوگی، لېور، لېونی، سل، لوشل،ليد، لام/ لومه... | دم، پدر، دست، دختر، داشتن (دارم، دارد)، دور، ديدن، داس، درو، دامن، دود، دېور، ديوانه، سد، دوشيدن، ديد، دام... |
| [و #ا] | خونه، نوم، کوم | خانه، نام، کدام |
| [و # ب] | گرېوان، ورور، وری، واوره، وهه (پوست باد؟) وز (وزه، بزه)، واز (-ول، -ېدل)، ويشت ،ولېشت (ولېست، لويشت، لويست)، ورښت (وريا)، وېخ( بېخ) وريت (-ول، -ېدل)، وړل... | گريبان، برادر، بار، برف، باد، بز، باز(-کردن،- شدن...) بيست، بليست، بارش، بيخ، بريان (-کردن)، بردن... |
| [چ #ک] | چاړه، چار | کارد، کار |

ketabton.com - The Digital Library

**اخځونه:**


۱. حبیبي، عبدالحی. (۱۳۴۱). پښتو و لویکان غزنه. نشرات انجمن تاریخ، کابل.
۲. حبیبي، عبدالحی. (۲۰۰۵). پښتو څوارلس سوه کاله پخوا. یونایټیډ پریس، کوټه.
۳. زیار، مجاور احمد. (۱۳۶٦). پښتو پښویه. کابل پوهنتون، کابل.
٤. زیار، مجاور احمد. (۱۳۸۵). لیکلارښود. د ساپي پښتو څېړنې او پراختیا مرکز، کابل.
۵. یمین، محمدحسین. (۲۰۰۴). دستور معاصر زبان پارسي دری. انتشارات میوند، کابل.
٦. کاکاخېل، ظفر. (۲۰۰۹). پښتانه د تاریخ په رڼا کې. یونیورستي بک ایجنسی، پېښور.
7. Online Etymology Dictionary. (n.d.). Retrieved Betwwen 2005 – 2009, from https://www.etymonline.com/.

ketabton.com - The Digital Library

## درېيم

# پارسي کې پورويي[٢٠]

د وييو راکړه- ورکړه په ټولو ژبو کې شته. [نړۍ کې] داسې ژبه نشته چې په يو نه يو ډول يې له بلې ژبې يا ګړدود څخه ويي پورکړي نه وي. پورونه[21] بېلابېل پوهنيز، تاريخي، سياسي، ټولنيز، کلتوري او ادبي لاملونه لري. په ټوليز ډول، که يوه ژبه کې کوم ويي نه وي نو پوروي يې او يا ورته رغېږي، چې د وخت په تېرېدو يې خپله پانګه ګرځي. په پور شوي ويي کې د ژبې له جوړښت سره سم بدلون هم راځي. له همدې امله، تر هغې چې يو پورويي د پوره وړې ژبې له غږيز جوړښت سره بشپړ برابرى او سمون ونلري، په هيڅ ژبه کې په لومړۍ او آره بڼه نه کارېږي. [خو په خپګان سره بايد ووايم چې لا تر اوسه ځيني پوهان کوښښ کوي، چې پورويي په اصلي اوآره بڼه پر پښتو او پښتنو وتپي، چې دا د ژبې په طبيعي وده کې خنډونه ولاړوي او د ژبې ويونکي تر فشار لاندې راولي. د پښتنو په لوی وطن کې اوس هم داسې پوهان شته، چې د ژبپوهنې د غږ پوهنيزو آرونو پر

٢٠ دا ليکنه په اصل کې د يو ايراني ليکوال (احمد محبوب) له هغه کتاب نه راخېستل شوې، چې (ساخت زبان فارسي) نوميږي. نوموړي دا ليکنه د خپل کتاب په وروستنی برخه کې د يو څېرکي په ډول راوړې ده. دغه کتاب په ١٣٨١هـ ش کال، په ايران کې د ميترا خپرندويه ټولنې لخوا چاپ شوی دی. پر دې ليکنه د لا روښانتيا او وضاحت لپاره ځينې حوالې ورزياتې شوي، د ځينو زياتونو په صورت کې له دې [ ] ليندکيو کاراخېستل شوی دی.

21 borrowing

ketabton.com - The Digital Library

خلاف ټینګار کوي چې د عربی پوروییي (خلق، حقوق، معلم، معلومات، عنوان، قلم، ساعت، طبیعت، فاسق، ثواب....) د پارسی (استاد، فارسي...)د تورکی (قطغ، قاچق، قورمه، اتاق، چاق، قاچاق...) دې په آره بڼه او په زور و زېر سره وویل شي. په انګرېزی ژبه کې د زیاتره پوروییو وینګ له آروینګ سره دومره توپیر لري، چې کله یې څوك وایي، نو ښایي چې د آرې ژبې ویونکي هم پرې پوه نشي، چې دا ویی د دوی له ژبې اخېستل شوی او که د پوره ورې ژبې خپل دی!]

ویي پورول په دوه ډوله دي[؟]:

لومړی- کورنی یا داخلي پورونه.

دویم- باندنی یا خارجي پورونه.

**لومړی - کورنی پورونه:**

که یوه کره (معیاري) ژبه له یو ګړدود یا د یوې ژبې له ټولنیزې څانګې نه ویی پور کړي، کورنی پورونه ورته وایي. په داسې وخت کې پور ویی په عامیانه ډول[کارېدنګ] ته راوځي او وروسته د ژبې لخوا منل کیږي. د ساري په ډول «ګپ» یا «ګب» چې له ګیلکی یا (اویستایي) ګړدود نه ننني پارسی ته ورغلی، اوس د ګړېدا او غږېدا په مانا کاریږي.

دا هم کېدون لري، چې یو ویی له څانګړنوم (خاص اسم) نه واخېستل شي او پر یو بل څیز کېښوول شي. د بېلګې په ډول «ساندویچ» په انګرېزی کې د لارډ ساندویچ[22] له نوم نه اخېستل شوی دی. دی لومړنی سړی و، چې د سفر پرمهال به یې غوښه په ډوډی کې ایښووله او خوړله. [دا خبره چې د سفر پر مهال یې داسې خوراک کاوه، په ځینو ځایو کې بل ډول راغلې ده. په ایټایمو اونلاین او ځینو نورو لغوي سرچینو کې راغلي چې نوموړی، به پر پرو( قطعه بازی او جواری) اخته و اوخپلو چوپړګرو(خدمتګارو) ته به یې ویل چې غوښه ورته په ډوډی کې تاو کړي، چې لاسونه یې غوړ نشي. دا ویی په انګرېزی ژبه کې په لومړي ځل د اتلسمې زیږدې پېړی په وروستیو درې لسیزو کې کارول شوی دی.]

همدغسې په جرمنی ژبه کې د «همبرګر» او په ګیلکی ژبه کې د «میرزا قاسمي» [چې د تورو بانجڼو یو ډول خواړه] ویي هم رامنځته شویدي. [ له ۱۸۸٤ زیږدي کال راهیسې «همبرګر» دود شوی دی. د دې ویي ریښه د جرمني ښار هامبورګ[23] کې ده. د انګرېزی ژبې ځیني پوهان وایي چې د دې خبرې د پخلي لپاره څه لاسوند

22 Lord Sandwich

23 Hamburg

ketabton.com - The Digital Library

نلري او يـوازې دا خبره كيـداى شي، چې د جرمني هامبورگ لـه ډكې (بنـدرگاه) نـه بـه جرمني كـډوال امريـكا تـه تلل او دغلتـه بـه يې دمـه كوله نـو ښـايي د دمې پـر مهال بـه يـې دغلتـه بيـړني (ايمرجـنسي) خـواړه خـوړل چـې وروسـته د «همبرگـر» پـه نامـه مشـهور شـوي وي.]

**دويم - باندنۍ پورونه:**

كـه لـه يـوې پـردۍ يـا مـړې ژبـې نـه يـو ويـى واخېسـتل شي او وكاريـږي، نـو باندنـۍ پورونـه ورتـه وايـي. د ساري پـه ډول د انگرېـزۍ «ټېلفـون» چـې لـه زړې يونانـۍ څخـه پـور شـوى دى يا «ستاك» [ «سـتاک» د ونـې څانگـه، د ونـې نـوى رسېدلى ښـاخ، stem مانـاوې لـري] چـې ايـراني ژبپوهـان يـې كړسـتې ( د فعـل اصـل) تـه وايـي.

همدغسـې «پدافنـد»، «تـك»، «پاتـك»، «ارتـش» [«پدافنـد» د دفـاع، غلچكـي عملياتـو مانـا وركـوي. (دهخدا-پرليكـه سـيند) «تـک» د لـږ، گولـه، لقمـه....، مانـاوې وركـوي ښـايي چـې د پښتو لـه «ټـوک» سره هـم آرى وي. «تكـه» ويـى د «ټـوک» پـه مانـا اوس هـم پښـتو كـې شـته دى. «پاتـک» د بريـد ضـد پـه مانـا دى. (دهخـدا- پرليكـه سـيند) «ارتـش» اردو، پـوځ، د پهلـوى لـه ارتيـشتر نـه اخېسـتل شـوى دى[24]. دا ټـول ويـي] د ايـران لـه مـړو ژبـو څخـه پـور شـويدي. همداشـان د پارسـۍ [او پښـتو] لخـوا لـه عربـۍ نـه ويـي پـورول، پـه باندنـۍ پورونـه كـې يـادولاى شـو.

د پورونـې پـه لـړ كـې يـو بـل ډول هـم د يادونـې دى [ چـې پښـتو كـې بـه ورتـه «پـور ژبـاړه» ويـل مناسـب وي او پـه پارسـۍ كـې يـې «ترجمـه قـرضى» او «گرتـه بـردارى» بـولي. پـور ژبـاړه يـو ډول ژبنـۍ پورونـه ده، چـې پكـې د يـوې ژبـې يـو غونـډ[25] يـا ژبنـى تركيـب ټـول ويـي سـپړل كيـږي او هـر ويـى يـې د پورونكـې ژبـې پـه يـو بـل معـادل ويـي ژباړيـږي او پـه دې ډول ټـول غونـډ ژبـاړل كيـږي. د سـاري پـه ډول چـې كلـه ډيموكـراسي سـيمې تـه راغلـه، نـو دا ويـى يـې كـټ مـټ وژبـاړه او پـه پښـتو كـې ورتـه ولسـواكي وويـل شـوه. ډيموكـراسي democracy لـه دوه گړونو (برخـو) جـوړه ده، چـې يـوه برخـه يـې demo د ولـس مانـا وركـوي او بلـه برخـه cracy د حكومـت او واك مانـا وركـوي، پـه دې حسـاب د ډيموكراسـۍ كـټ مـټ مانـا ولسـواكي كيـږي. دې ډول ژبـاړې تـه (ريښـه پـه ريښـه root-for-root يـا ويـى پـه ويـي (كلمـه پـه كلمـه) word-for-word ژبـاړه هـم ويـل شـوېده.] پـه دې كـې ديـوه ويـي توكي (اجزاوې) يـا ديـوې ژبـې تركيـب كـټ مـټ ژباړيـږي، لكـه د اوسـپنې لار لـه (راه اهـن rail way) نـه

24 (www.farsilookup.com)
25 phrase

ketabton.com - The Digital Library

او د مغزپرېمينځل لـه (مغزشـوي brain washing) نـه پـور ژبـاړې دي.[ د يادونـې وړ ده چـې د پښـتو ژبـې ډېـرو مشـهورو ليکوالـو وخـت پـه وخـت پـور ژبـاړه رټلـې او د پښـتو ژبـې لپـاره يـې پـه زيـان بللـې ده خـو زه وايـم چـې دغسـې رټـل يـې لازم نـدي او پـه دې دومـره پراخـه نـړۍ کـې پښـتو ژبـه دومـره تنګـول او کلـوز سـاتل د پښـتنو نـړۍ ليـد محـدود سـاتي او ژبـه سـختوي. بيـا هـم يـو ژور بحـث تـه اړتيـا لـري، هيلـه ده چـې اړونـد پـراخ ليـدي ځانګـوال بـه يـې پـرې وکـړي.]

پـارسي ژبـه پـه دې برخـه کـې دځېړنـې وړ ده.[ پـه رښـتيا هـم پارسـۍ تـه د ورځـې زيات کتابونـه ژباړېـږي نـو لـه همـدې املـه هـره ورځ يـې چوکاټ تـه نـوې مانـاوې، فکرونـه او ويـي ور ننوځـي. پـه پښـتو کـې د پورژبـاړې ځينـې نمونـې پـه لانـدې ډول پـه ګوتـه کـولای شـو:

ازاد شعر (انګرېزي:Free verse ، پرانسي : vers libre )

سريـزه يـا مخنـۍ خبرې (پـارسي: پيشـګفتار، انګرېـزي :foreword ، جرمنـي: Vorwort ، لاتين: præfatio)

نړيواله جګړه (پارسي: جنګ جهاني، انګريزي: world war، جرمني: Weltkrieg)

پيو لار= کهکشان ( انګريزي: milky way، لاتين: via lacteal، يوناني: galaxias)

نـورې نمونـې: لومړنـۍ زده کـړه (پريليـمنري ايجوکېشـن يـا تعليـمات اسـاسي)، منځنـۍ زده کـړه (تعلـيمات متوسـط، ميـډل ايجوکېشـن)...] لـه بلـې خـوا، پـه پارسـۍ کـې لـه هنـد- يـورو (هنـدو- اروپايـي) ژبـو سره د هـم آريتـوب لـه املـه ورتـه او مشـابه ويـي لکـه (بـرادر، مـادر، دختر...) هـم شـته خـو دا پورويـي، نـدي [بلکـې يـوآري ويـي ګڼـل کيـږي.]

پـه هـره توګـه، لکـه څنګـه چـې ايـران [پـارس] د ډېـرو توکمونـو تګلـورۍ پاتـې شـوی، نـو لـه همـدې املـه يـې ډېـر ويـي پورکړيدي.کابـو لـه اسلام نـه وړانـدې پارسـۍ لـه يونانـۍ، هنـدۍ يـا آرامـۍ ژبـو نـه ويـي پورکـړي ول؛ خـو د اسلام لـه ظهـور وروسـته پارسـۍ تـه د عربـۍ ويـي ورغلـل. پـه دې ويـو کـې پـه تېـره هغـه ويـي زيـات ول، چـې پـارسي انډولونـه يـې نـه درلـودل.

لـه څلورمـې او پنځمـې هجـري پېړۍ نـه تـر اوومـې هجـري پېړۍ پـورې پارسـۍ تـه د عربـۍ د پورويـو لـړۍ پراخـه شـوه او پـر دينـي ويـو سربېـره سياسي او پوهنيـز ويـي هـم ورننوتـل. دا کار پـه تېـره، هغـه وخـت ډېـر پـراخ شـو، چـې [پـارسي] ليکوالـو بـه پـر عربـۍ پالنـه ويـاړ کاوه. [کـټ مـټ داسـې لکـه پښـتانه ملايـان چـې اوس هـم پـر عربـۍ پالنـه ويـاړ او ټينـګار کـوي.]

ketabton.com - The Digital Library

لـه اوومـې تـر دولسـمې پېړۍ پـورې ورو- ورو پـر پارسـۍ د عربـۍ اغېـز لـږ شـو او لـه دولسـمې پېړۍ راهيسـې دا، اغېـز ورځ پـه ورځ نـور هـم لږېـږي.

د [پارسـۍ] لخوا لـه ترکي او مغولي وييـو د پورونـې لـړۍ هـم لـه اوومـې پېړۍ پيليـږي. پـه اوومـه پېړۍ کـې د منځنـۍ اسيا د ترکانـو اغېـز او وروسـته د مغولانـو د بريـد لـه املـه پارسـۍ تـه ډېـر مغـولي او تـرکي وييـ ورغلـل. هغـه ويـي چـې [پارسـۍ] لـه ترکـۍ پـور کـړي، ډېـرى يـې سـياسي او اداري دي، چـې دې لـړۍ تـر لسـمې پېـړۍ پـورې دوام کـړى دى.

لـه دولسـمې پېړۍ رادېخوا پـه پارسـۍ کـې د اروپايـي ژبـو (پرانسـۍ، انگرېـزۍ، جرمنـۍ او روسـۍ) ويـي ډېـر شـول، چـې لـه دغـو ژبـو يـې پورونـه د پوهنيـزو او سـوداگريزو اړيکـو لـه املـه شـوېده.

خـو [پـر پارسـۍ دا لغـوي] اغېـز پـه چټکـۍ سره پـه کمېـدو دى او ورو - ورو يـې ځـاى پورژبـاړه نـيسي.

پـه هـر ډول، پارسـۍ هـم د نـړۍ د نـورو ژونديـو ژبـو پـه څېـر، لـه بيلابېلـو ژبـو ويـي پـور کـړي او ورو-ورو يـې هغـه ويـي څنـډې تـه کـړي چـې اړتيـا يـې ورتـه نـده لرلـې.

د پارسي پور وييو ساري په لاندې ډول دي:

**له عربۍ پور کړي ويي:**

زکات، شـهيد، مسـلم، مومـن، کافـر، جهـاد، منافـق، فاسـد، فاسـق...خبيث، آيـت، قـران، اقامـه، متعـه، طلاق، ازدواج، قبلـه، منـاره، اذان، شـيطان[26] (کـه څـه هـم لـه آره عـربي نـه دى)، غسـل، نـکير و منکـر، حشر و نشر، واجـب، مسـتحب، حلال، حـرام، مبـارك، برکـت، تبريـك، عـده، صـواب، ثـواب، خطـا، جـزا، غلـط، وسوسـه، کعبـه، نصيحـت، طبيعـت، سـاعت، نيـت، تکـبير، خير، شر، عـذاب، شـهادت، رکـوع، سـجود، سلام، صدقـه، هديـه، دعـا، عـرش، فـرش، قلـم، ابـد، ازل، تسـبيح، قربـان، جمعـه، مرحـوم، مملکـت، رعيـت، سـلطان، حـرم، علـم، خطبـه، معـروف، امـر و نهـى، دفـاع، ظلـم، عدالـت، قصيـده، رضـا او...

**له يونانۍ او رومۍ [لاتين] پور کړي ويي:**

... سـکندر (اليکسـنډر)، منجنيق (مکانيـك)، دينـار، قانـون، کانـون، تريـاك، قفـس،

۲۶ شـيطان ويـى لـه حبشـى ژبـې نـه عبرانـى (د يهوديانـو ژبـې) تـه تـللى چـې د سرکـش او باغـي مانـا ورکـوي "علي عبـاس جلالپوري،کاينـات اورانسـان، ۱٤ مـخ). ځينـي څېړندويـان وايـي چـې دا ويـى د زردشـتي ديـن داهريمـن (د شر خدايگوتـي) پـور ژبـاړه ده او يهوديانـو د شـيطان تصـور لـه اورپرستانو (زردشـتيانو) اخيسـتى، چـې وروسـته عيسـايت او اسلام تـه هـم لېږدېدلـى دى. دا پوهـان دا هـم وايـي چـې يهوديانـو پـه لومړيـو کـې د شـيطان پـر تصـور بـاور نـه درلـود.

ketabton.com - The Digital Library

درهم، پیاله، لگن، دیهیم، اسطرلاب، فنجان، کلید[؟]، لنگر، نرگس، پسته، کبریت، الماس، زمرد، مروارید، سیم (نقره) او ...

**له حبشۍ نه:**

مشکات، هرج، منبر، برهان، مصحف، نفاق او ...( دا ویي دعربۍ له لارې پارسۍ ته ننوتي دي.)

**له آرامۍ نه:**

حج، کاهن، عاشورا، شیدا، قرمز، ناسوت، مسجد(له مزگت نه)، کلیسا او ...

**له ترکۍ نه:**

قربان (کماندان)، خاتون، خان، خانم، خاقان، بیگ، بیگم، اتابك، سنجاق، جرگه، اتاق او ...

**له مغولۍ نه:**

ایل، ییلاق، سوقات[27]، غدغن، شلاق، نوکر، تغار، پلو، چلو، قورمه، قیمه، قشون، یورش، چاق، چماق، غرغاول، قراول، چکمه، تسمه، چاقچور، قنداق، قلدر، قلچماق، قاچاق، یقه، بقچه، باجي، داداش، چك او ...

**له هندۍ نه:**

صبح، بها، سفینه، ضیا، کافور، قداره (=کتاره)، انبه، نارگیل، ببر، نیلوفر، جنگ، جنگل، هلاهل، فلفل او ...

**[له پښتو نه:** [28]

ځیني ویي شته چې له پښتو نه پارسۍ ته ورغلي، په تېره افغاني پارسۍ (دري) ته، لکه:

شبان (شپون)، پوهنتون، پوهنزی، شاغلی، گادی، گدی، بوته، کلکین، کوتوال[29]،

27 دا ویی په پښتوکي د سوغات په بڼه کاريږي، چې له آره ترکي دی.

28 دا برخه په آره ليکنه کې نشته ده. د دې برخې ځيني ويي په هندي ژبې پورې تړل کېږي حال دا چې د هندي او پښتو يوآري او گډه پانگه بلل به يې بهتره وي.

29 کوټ: کلا او ډېري (خرې) ته وايي. ”کوت“ په پهلوۍ ژبه کې هم موجود و چې د(کلا) مانا يې ورکوله. ”کوتوال“ ويی د غزنوي پېر تاريخليکوال (خواجه ابوالفضل محمد بن حسين بيهقي) په (تاريخ بيهقي) چې د افغانستان د دولتی مطبعې لخوا په ۱۳۶۴ ل ل کې خپور شوی هم راغلی دی. د دغه کتاب لمنليکوال او مصحح (دکترعلی اکبرفياض) دغه ويی له آره هندي بللی دی. اوس هم په پښتوکې (کوټه) د خونې room چې د کلا اساس گڼل کېږي، ته وايی او کوټوال په پخوانيو پښتو متونو کې د (سپاهي، پوليس، ساتوونکي...) په مانا کارېدلی دی. البته له دې هم سترگې

ketabton.com - The Digital Library

گدود، سارنوالی، ستره محکمه، اندیوال او نور چې بشپړه څېړنه غواړي.]

**له روسۍ او اتریشۍ نه:**

سماور، قوری، استکان، نعلبکی، درشکه، کالسکه، صندلي، میز، گاري، سالن، جلیتقه، اسکناس، چورتکه او...

**له پرانسۍ نه:**

آدرس، آژانس، اتومبیل، بانك، بلیت، پارتي، پارك، پارلمان، پانسیون، پلیس، پیانو، تاتر، ترور، تریبون، تلفن، تلگراف، تلگرام، دموکراسی، دیپلم، دیپلمات، دیکته، رادیکال، ساردین، سانسور، سانس، سندیکا، سوپ، سیفون، فئودال، کابینه، کتلت، کلاس، کمد، کمیته، بودجه، کنفرانس، گاز، لامپ، ماشین، مبل، مود (مد)، مرسی، موزیك، نمره او ... [ دې وییو کې د ځینو ریښې په یونانۍ او لاتین پورې رسېږي.]

**له انگریزۍ نه:**

استوپ، اوت، تایم، بتری (بطری)، ترامواي، جنتلمن، ساندویچ، کتری[30]، کوکتل، گیلاس (لیوان) او...

داسې نورې بیلگې هم شته دي... دیادونې وړ ده، چې په ځینو راوړو بېلگو کې د اړنگ او شك ځای هم شته دی.

په هر صورت په پارسۍ کې د پور وییو ښکارنده (پدیده) په چټکۍ سره مخ په لړېدو ده. په دې ژبه کې داسې خوځښت رامنځته شوی، چې په خپله ورو-ورو ځانگړي پور ویي له کاره وځي.

پای کې هغه لاملونه چې پارسي یې له امله ویي پور کړي، په لاندې ډول په گوته کیدای شي:

[پر پارس] د نورو قومونو لکه د سکندر په وخت کې د یونانیانو بیا د عربانو او مغولانو سیاسي او پوځي اغېز (نفوذ)؛

[پر پارس] د نورو قومونو لکه انگرېزانو، فرانسویانو او څه نا څه د عربانو... پرمختیایي، پوهنیز او کلتوري اغېز؛

[له پارس سره د نړۍ] سوداگریز او کلتوري اړیکي؛

له پخوا نه تر اوسه [د پارسي ژبو] لیکوالو، ادیبانو، ویندویانو ځان بایلنه او تقلید؛

---

نشي پټېدای چې (کوتوال، کوټوالي،کوټها، کوټهي، کوټ...) په هندۍ کې راغلي دي. د ″کوټوال/کوټوالي″ جوړښت د پښتو ژبې له ویي رغاونیز جوړښت word forming structure سره ډېر زیات اړخ لگوي.

۳۰ کتري : چای جوش، بدنۍ، kettle

ketabton.com - The Digital Library

نویو وییو ته اړتیا خو پر خپله ژبه لاسبری (تسلط) نه درلودل؛
له نورو قومونو سره [د پارسي ژبو] گاونډیتوب.
یو څل بیا د یادونې ده، چې پورونه د نړۍ په ټولو ژبوکې شته او د اصولو پر بنسټ ژبې یو له بل نه ویې پوروي او پور یې ورکوي، نو پارسۍ هم عربۍ، پرانسۍ، انگرېزۍ، لاتین ، یونانۍ، هندۍ، چینایۍ، [پښتو] او ... نورو ژبو ته پور ورکړی دی.

ketabton.com - The Digital Library

**اخځونه:**

۱. ابو محبوب، احمد.(۱۳۸۱). ساخت زبان فارسي. انتشارات میترا، تهران.

2. Farsilookup Team. (n.d.). Farsilookup Online Persian Dictionary. farsilookup.com. Retrieved February 1, 2011, from www.farsilookup.com

3. Loghatnameh Team. (n.d.). Loghatnameh Online Persian Dictionary. www.loghatnameh.de. Retrieved February 1, 2011, from http://www.loghatnameh.de/

4. OED Team. (n.d.). Online English Etymology Dictionary. www.etymonline.com. Retrieved February 1, 2009 through 2011, from https://www.etymonline.com/

5. Wikipedia Team. (n.d.). The Free Online Encyclopedia. Wikipedia.com. Retrieved February 1, 2009, from www.enwikipedia.org

ketabton.com - The Digital Library

# څلورم

## خارګ ډبرلیک

د ایـران یـو خبري اژانـس «خبرګـزاري میراث فرهنګـي» پارسـۍ ځانګـې د ۲۰۰۷ زېږدي کال د نـومبر پـه دویمـه اوونـۍ کـې د یـو ډبرلیـك د موندنـې خبر ورکـړ. دغـه ډبرلیـك د پـارس خلیـج، خـارګ یـا خـارک ټاپـو کـې د سـړك جوړونـې پـر مهـال مونـدل شـوی و. ډبـر لیـک پـه میخـي لیـک و؛ ویـل کیـږي چـې پـه زړه پارسـی او پـه ۴۰۰ ق.م کـې کښـل شـوی دی.

خـارګ ټاپـو د پـارس خلیـج تـر ټولـو لرغـونی ځـای دی، چـې د بوشـهر شمال لویدیـز تـه پـه کابـو ۵۷ کیلومـیترۍ او د ریـګ بنـدر پـه دېـرش کیلـو مـیترۍ کـې پـروت دی. دغـه ټاپـو لـه شمال نـه تـر جنوبـه پـورې کابـو اتـه کیلـو مـیتره اوږد پـروت دی او پـه شمالي برخـه کـې یـې تـر ټولـو پلنـه (سـوروره) برخـه شـاوخوا څلـور کیلـو مـیترو تـه رسي.

خـارګ ډبرلیـك د څـوو ژبڅېړندویانـو لخـوا پـه بېلابېـل ډول لوسـتل شـوی، چـې دلتـه یـې د دوو تنـو مهـم ټکـي (جزئیـات) وړانـدې کـوم.

لومړی - د رضا مرادي لخوا د ډبرلیک لوستل:

د ایـران د زړو ژبـو یـو څېړنـدوی رضـا مـرادي غیـاث ابـادي پـه لومړیـو کـې ویلي

ketabton.com - The Digital Library

ول،چې خارگ ډبرلیك شپږ لیکې او شپږ کلمې لري. نوموړې ډبرلیك په لاندې ډول لوستی:

اوله کلمه، دوه غبره/توري لري: /آ، اَ/ او /هَـ/ چې /آهَه، اَهَه/ ترې جوړیږي. مانا یې (و) یا (وو، ول)کیږي.

دویمه کلمه یې پنځه غبره/توري لري: /سَ/، /آ،ا/، /کُ/، /شَ/ او /آ،ا/: چې / ساکوشا، ساکُشا/ کیږي. ده ویلي ول چې دا کلمه یو ځانګړنوم دی او په زړو پارسي لیکنو کې بل چېرته ندی لیدل شوی. خو دا وړ کلمې به د سکیتانو یا ساکو[31] لخوا کارول کېدې. نوموړی وایي، چې د (- شا) روستاړی د زړې پارسۍ له (شاه) یانې پاچا یا پادشاه سره تړاو نلري، ځکه د زړې پارسۍ (شاه) به پخوا د (خْشایَشییَه) په بڼه لیکل کېده.

د درېیمې کلمې یوازې، دوه غبره: /هَـ/ او /اي/؛ /هیـ . . . / لوستل کېدای شي. په زړو پارسي متونو کې د /هـي-/ مختاړی یوازې له هندیانو سره داړیکو لپاره لیدل شوی، لکه: (هیدوش) یانې (هند).(؟)

څلورمه کلمه هم دوه توري یا غبره: /کَ/ او /آ،اَ/ لوستل شوي دي. د دې دواړو منځنې واټن کې موجود توري هم له منځه تللي او یوبل پسې ندي نښتي. همداشان د /کَ/ په خوا کې یو تاج ډوله شکل هم شته دی.

پنځمه کلمه څلور توري یا غبره لري: /بَ/، /هَـ/، /نَ/ او /مَ/، چې ټول یې: /بَهَنَمَ/ کیږي. دا کلمه هم په لومړي ځل لیدل کیږي او مانا یې هم نده مالومه.

د شپږمې کلمې هم دوه غبره: /خَ/ او /آ،اَ/: /خا/ لوستل شوي او پای یې هم مبهم دی.

د ډبر لیک اړوند د رضا مرادي نورې یادونې:

په لومړیو کې ښاغلي رضا مرادي ویلي ول، چې ښايي خارګ ډبرلیك زړې پارسۍ ته پنځه کلمې ور زیاتې کړي، ځکه هغه ګومان کاو، چې پر دغه ډبرلیك پنځه داسې کلمې توږل شوي، چې د زړې پارسۍ په نورو ډبرلیکونو کې ندي ترسترګو شوي .

هغه ویلي ول، چې دغه ډبرلیك په شپږو بېلابېلو افقي کرښو کې چې ټولې شپږ کلمې کیږي توږل شوی او تاریخ یې د هخامنشیانو تر دورې پورې رسي.

هغه ویل ول، چې د خارک ډبرلیك لومړی، دویمه، پنځمه او شپږمه کلمه لوستل کېدای شي خو درېیمه او څلورمه کلمه یې د سولېدنې اوخرابېدو له امله نشي

31 Scythians

ketabton.com - The Digital Library

لوستل کېدای او د زړې پارسۍ د نورو ډبرلیکونو په توپیر، هره کلمه په ځانګړې لیکه کې په بې پامۍ او چټکۍ سره تورل شوېده.
هغه ویلي ول،چې دا کتیبه درې تاج ډوله شکلونه هم لري، چې د ډبرلیك په منځ او د دریمې او څلورمې لیکې په پیل کې په ملاست ډول کښل شوي او دغه شکلونه د ساساني پاچاهانو تاجونو ته ورته دي. خو پر دې سربېره ښاغلي مرادي ټینګار کړی، چې د نوموړي ډبرلیك اصلیت دې هم وڅېړل شي، ځکه ځیني غیر عادي ټکي هم شته چې پر ډبرلیك انسان شکمنوي. همدغسې نوموړي یادونه کړې وه، چې لوستنه یې وروستۍ نده او نورو څېړندویانو ته دې هم وړاندې شي.
هېره دې نه وي،چې ښاغلي مرادي دغه جزیات د هغو انځورونو له مخې ورکړي، چې د سیمې د خلکو لخوا، وراستول شوي ول.
دویم، د بشاش لخوا د ډبرلیك لوستل:
خارګ ډبرلیك د ایران د (لرغونتوکو د څېړنې مرکز (ARCI) یوه څېړندوی رسول بشاش لخوا په دویم ځل ولوستل شو. بشاش د مرادي په توپیر ویلي ول، چې د خارګ ډبرلیك په پنځه لیکو کې لیکل شوی. نوموړي هره لیکه په دې ډول لوستې ده:
لومړۍ لیکه کې یوه کلمه ده. بشاش دغه کلمه (هَه ha) لوستې او (و، شو) یا (ول، شول) یې مانا کړېده. هغه د دې کلمې ریښه (ah) ګڼلې چې د(ول، شول...) په مانا ده او تېرمهال یې (هَه ha) یانې (و، وو یا شو) کیږي.
دویمه لیکه کې دوه کلمې دي. یوه یې (ساآنه= sa a na ) ده، چې د زړې پارسۍ په پخوانیو متونو کې نشته. دا کلمه د للمې ځمکې[۳۲] په مانا ده. د دې کلمې دویمه برخه (اي)(؟) ده، چې مانایې (ښه، خوشحاله، هوسا)کیږي.
دریمه لیکه یې (وزه هه مه= va zah ha ma) لوستې ده. (وزه va zah) له (وَز=vaz) فعل نه اخېستل شوې بولي چې (وړل، وړاندې کول، وېستل)[؟]ماناوې لري.
او دویمه کلمه (mai)، (زما) او (مې) مانا لري او ټوله جمله (زما وړاندې کول، زما راوېستل (اوبه)=my offer, my flow) مانا کوي.
څلورمه لیکه (بهاناما= bahanama) لولي. لومړۍ برخه (بهانا) د شخص نوم بولي او دویمه برخه (ما=ma) یې د (مې) او، (زما) په مانا اخلي.
ښاغلی بشاش وایي، چې په وروستنۍ یانې پنځمه لیکه کې یوه کلمه د (خا=xa) په مانا ده، چې ښا، کوهي (wells،quells) ته وایي.

32 Not irrigated land

ketabton.com - The Digital Library

په پای کې ټول ډبرلیك داسې مانا کوي (للمه ځمکه مې (د) بهانا کوهي له (اوبو) راوېستلو (سره) خوشحاله (ښه، اباده) شوه......)

The not irrigated land was (became) happy (with) my bringing out (water)... Bahna ma wells)

د ډبرلیك اړوند د بشاش نورې یادونې:

غالباً بهانا[۳۳] د کوم سیمه یز پاچا یاحاکم نوم دی، چې د دغې سیمې د ابادۍ اوکرنیزې ودې لپاره به یې امرکړی وي.

دغه لیك پریوه کږه و کینه (ناهمواره) تیگه، چې ۸۵ x ۱۱۶ سانتي میتره پراخه ده او له خپل اصلي ځای نه رابېله شوې؛ کښل شویدی.

د ډبرلیك تاریخ د هخامنشیانو وروستنۍ دورې ته رسیږي او د هخامنشیانو د منظمو ډبرلیکونو په توپیر په غیرعادي بڼه په پنځه لیکو کې، پر مرجاني تیگه توږل شویدی. لومړنۍ درې لیکې یې له وروستیو دوه لیکو څخه اته سانتي میتره لېږې دي او د لومړنیو لیکو په توپیر نامنظمې لیکل شویدي.

د ډبرلیك ځینې توري په ډېره ښه توگه توږل شوي. د متن په منځ کې دوه شکلونه هم تر سترگو کیږي، چې یو یې د درېیمې لیکې په پیل کې د درې گوټیز تاج په ډول دی او بل یې یوه کرښه ده، چې د درېیمې او څلورمې لیکې ترمنځ کږه وکینه ده، کښل شوېده. ډبرلیك په څو بېلابېلو سبکونو توږل شویدی.

همداشان د ډبرلیك په اړه نورو لرغونپوهانو او ژبڅېړندویانو هم یادونې کړې، په دې لړکې دایران د بوشهر یوتن لرغونپوه علي اکبر سرفراز وایي، چې نوموړی ډبرلیك پر دغه ټاپو باندې لومړی مرجاني ډبرلیك دی. نوموړي ویلي،کېدای شي د خارك ټاپو پنځه لس زره کاله وړاندې له اوبو نه راوتلی وي.

زړه پارسي هغه ژبه ده چې دونیم زره کاله د مخه د ایران په پارس کې ویل کیده او د هخامنشي پاچاهانو درباري ژبه وه، خو د دې ژبې کوم کتاب اوس ندی پاته، یوازې د ایران او مصر پر ځینو غرو باندې د دې ژبې یو څو ډبرلیکونه په میخي لیک پاته دي چې ټول ۴۰۰ لفظونه کیږي. (صلاحي، د کوشاني دورې د ژبوڅېړنه، ۵۴ مخ) د هخامنشیانو د پېر ډېر مهم ډبر لیک (بېستون) دی، چې د علامه عبدالحی حبیبي د څېړنې له مخې ځینې کلمې یې له پښتو کلمو سره یوآرې دي.

په خارگ ډبر لیک کې هم د بېستون ډبرلیک په شان ډېرې داسې کلمې تر سترگو کیږي چې پښتو ته ډېرې نژدې دي. زما د دې لیک هدف یوازې دا دی

33 Bahana

ketabton.com - The Digital Library

چې د پښتو تاریخي ژبپوهنې، تاریخپوهانو او ژبڅېړندویانو پام خارګ ډبرلیک ته واړوم، چې مالومه کړي د خارګ ډبر لیک او ټاپو اړیکه له پښتو ژبې، د پښتنو نیکونو له واکمنۍ سره شته او کنه. ځکه زموږ ګاونډیو قومونو د مړیو مال په ډول د پښتنو تاریخ، ویاړونه، ژبه، کلتور هر څه په ځان پورې تړلي او هغه څه چې یې بد راغلي هغه یې په پښتو او پښتنو پورې تپلي دي او هان اوس هم دا لړۍ روانه ده.

زه د خارګ ډبرلیک د ژبې او خارګ ټاپو کې د پښتنو نیکونو د واکمنۍ په اړه اخري خبره نشم کوای خو ځیني ټکي به هرومرو یاد کړم. هغه دا چې د خارګ ډبرلیک دواړو پوهانو له لوستنې څخه دا واضح ښکاري چې پښتو ته نژدې کلمې پکې شته دي، لکه: (هَـه/ د (و، وو، ول، شول، سول) په مانا چې په اویستایي ژبه کې هم اهۀ ah د ول، کېدل اوشول په مانا موجوده ده. بله کلمه (mai)، (زما، مې) په مانا په پښتو کې دا اوس هم په همدغسې مانـاو ژوندۍ ده. همدا راز (هَـ) د (هه، خه، ښه، شه ) په مانـاو لـه امکان نـه لېرې نـه ښکاري. همدغسې( کا، خا) د ( ښا او کوهې) له مانـاو سره تړښت درلـوداى شي.

بله کلمه (ساکوشا) چې د پښتو ژبې له ساک سره تړلی ښکاري. سکیتیان یا ساکان، چې په وروستیو څېړنو کې پښتانه تر ډېره بریده د همدغو خلکو له اصله ګڼل کیږي. د پښتنو په ټبرونوکې د (ساک) په نامه یو ټبر شته، چې د افغانستان د ځینو مهمو تاریخوالو لخوا (سهاک، ضحاک، اژدهاک،...) هم یاد شوي دي. همداشان په پښتو کې د(سکه) په نامه یو ویی هم شته دی.(زیار، پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې) سکه، هغه خپلوان (ورور، خور....) ته ویل کیږي چې یو چاته ډېر نژدې وي یا له یو پلار – موره زیږېدلي وي.

د دې ډبر لیک د ژبې په اړه لا هم د ایراني پوهانو تر منځ ټولمنلی نظر موجود شوی نـدی نو هیله ده چې د خارګ ډبرلیک او خارګ ټاپو تاریخ په اړه پښتانه ځانګوال هم هر اړخیزه څېړنه وکړي او ځان پوه کړي، چې ایا دا ډبر لیک خو به د پښتنو په نیکونو پورې اړه نلري؟ (پای)

ketabton.com - The Digital Library

خارگ دیبرلیک (۱)
Kharg Inscription (1)



خارگ دیبرلیک (۲)
Kharg Inscription (2)



خارگ دیبرلیک (۳)
Kharg Inscription (3)



ketabton.com - The Digital Library

خارگ ډبرلیک (۴)

Kharg Inscription (4)




خارگ ډبرلیک (۵)

Kharg Inscription (5)

بیالیکل او غږلیک

(رضا مرادی غیاث ابادی)



a h(a)

s(a) â (n)k(o) sh(a) â

h(a) e(i/in)

... k(a) z(a)? â

b(a) h(a/i) n(a) m(a)

x(a) â e(i)

ketabton.com - The Digital Library

**اخځونه:**


۱. صلاحي، محمد نبي. (۱۳۸۵). د کوشاني دورې د ژبو څېړنه. افغان مسلکي مطبعه، کابل.

۲. عليپور، عباس. (۲۰۰۷). کشف کتيبه هخامنشي در خارک، سند ديگری بر نام خليج فارس. www.navasepantamminoo.blogfa.com. اخذ بتاريخ (۲۷ نومبر ۲۰۰۷) از http://navasepantamminoo.blogfa.com/post/98

3. AVESTA -Zoroastrian Archives. (n.d.). Avestan Dictionary. www.avesta.org. Retrieved March 2, 2007, from https://www.avesta.org/avdict/avdict.htm#dctm

4. http://www.chn.ir/news/?section=2&id=43479. Retrieved, 2007.

5. http://www.chn.ir/news/?Section=2&id=43508. Retrieved, 2007.

6. http://62.193.18.228/index_view.asp?code=158078. Retrieved, 2007.

7. http://www.chn.ir/news/?Section=2&id=44031. Retrieved, 2007.

8. http://www.chn.ir/news/?Section=2&id=43883. Retrieved, 2007.

9. http://www.chn.ir/news/?Section=2&id=43577. Retrieved, 2007.

10. http://www.iran-newspaper.com/1384/840805/html/report.htm. Retrieved, 2007.

11. http://www.chnpress.com/news/?section=2&id=7401. Retrieved, 2007.

12. http://www.iranmania.com/News/ArticleView/Default.asp?NewsCode=55943&NewsKind=CurrentAffairs. Retrieved, 2007.

ketabton.com - The Digital Library

# پنځم

## ولې یوویشت؟

کـه مـو پـام شـوی وي، کلـه چـې مـوږ پـه پښـتوکې لـه لسـو نـه پورتـه شـمېر کـوو او دوه رقمـي عـدد وایـو نـو لومـړی یویـز عـدد یـادوو او وروسـې لسـیز.[۳۴] دا کار تـر نهـه نـوي پـورې کـوو، خـو کلـه چـې شـمېر لـه نهـه نـوي پورتـه کېـږي او درې رقمـي عـدد وایـو نو بیـا دا لار پرېـږدو او اول لـوی عـدد یـادوو او وروسـې کوچنـی، لکـه یوسـل و یـو، یـوزر و یـو ...پـر همـدې لار چـې کلـه لـه لسـو نـه تـر شـلو پـورې حسـاب وایـو، نـو لـه « لـس » نـه وړانـدې یـو، دوه...ږدو او شـمېر تـه تـر نولـس پـورې دوام ورکـوو او وروسـې « شـل » وایـو. خـو چـې لـه شـلو نـه تـر دېرشـو پـورې حسـاب کـوو، نـو د شـل پـر ځـای لـه "ویشـت" نـه وړانـدې یـو، دوه....عـدد ږدو او ترنهـه ویشـت پـورې یـې « یوویشـت، دوه ویشـت،...» وایـو.

خـو لـه دېـرش، څلوېښـت، پنځـوس، شـپېته، اویـا، اتیـا، نـوي وروسـته هماغـه د یـو دېـرش...، یـو څلوېښـت...، یـو پنځـوس...، یـو شـپېته ...، یـو اویـا...، یـو اتیـا...، یـو نـوي... لار نیسـو او تـر نهـه نـوي پـورې حسـاب وایـو.

---

۳۴ د سنسـکریت ژبـې شـمېرنه هـم د پښـتو پـه شـان کیـږي. لومـړی یـې یویـز عـدد یادیـږي او وروسـې لسـیز. خـو پـه پارسـي کـې دا کار لـه لسـو نـه تـر ترشـلو پـورې کیـږي او لـه شـلونه هاخـوا تـه تـر نهـه نـوي پـورې لومـړی لسـیز یادیـږي او وروسـې یویـز لکـه (یـازده، دوازده،...، بیسـت ویـک، سي ویک....نـود و یـک). د یادونـې ده چـې پـه سنسـکریت ژبـه کـې ځینـې مهـال د (یـو کم|یـو نـه) اصـطلاح هـم کاریـږي، چـې دا پـه پښـتو کـې هـم شـته، لکـه: یـو کـم سـل، یـو کـم پنځـوس ...

ketabton.com - The Digital Library

ځینو وګړو ته پوښتنه پیداکیږي، چې ولې له شلو نه تر نهه ویشت پورې دغه لار نه نیول کیږي او ولې د "ویشت" پرځای (یو شل)، (دوه شل)... نه وایو؟ د بې دودۍ داستونزه زیاترینه هغو ته پېښیږي چې نوې، نوې یې پښتو زده کړې یا یې زده کوي. مونږ به دلته همدې پوښتنې ته ځواب ولټوو چې ولې یو ویشت، دوه ویشت...وایو او یو شل.. دو شل راته ناسم ښکاري؟ نو اړینه ده چې "-ویشت" په ځینو ژبو کې وڅېړو.

"-ویشت" ګړ (مورفیم) یا لنډه ګړنۍ بنه "-ویش" په اویستایي ژبه کې د "ویستي" vîsaiti په بڼه په خپلواک ډول راغلی او د شل مانا ورکوي. همدغسې دا ویی د پښتو په ترلې ژبه (پارسي)کې د "بیست" په بڼه شته دی، چې یوازې له پښتو ویي "ویشت" سره دوه غږونه /و، ش/ توپیر لري، چې داسې غږیز توپیر د پښتو او پارسي وییو تر منځ په ډېرو کې لیدل کیږي. د ساري په ډول پښتو /و/او پارسي /ب/د غږیز توپیر په برخه کې "بار-وری، وربښت-بارش، برادر-ورور، برف-واوره..." او د پښتو/ش/او پارسي /س/د بدلون په برخه کې "است-شته،..." ساري ښه لاسوند کیدای شي. د یادونې وړ ده، چې د /س/او /ش/غږونو، یو پر بل بدلون او توپیر په سنسکریت کې هم شته دی.

د ساري په ډول په سنسکریت کې لس د "dasa" او "dasha" په بڼو لیکل شوی دی.

همدغسې په سنسکریت کې شلو ته "vimsati, vinsht, vinshati"[35] ویي کارېدلي. د دې ویي لومړی برخه "ویم یا وین" هم د دې لړۍ یوه کړۍ بریښي. همداراز "-ویشت" ته نژدې یو څه په پنجابۍ کې د "وي" په بڼه شته چې ښایي له سنسکریت نه ورغلي وي او د شل په مانا کاریږي.

## نـــچـــوړ:

د ټولو خبرو پایله دا راوځي چې پښتو کې "-ویشت" یا لنډه ګړنۍ بڼه یې "-ویش" هم شلو ته وایي، چې د پارسي "بیست" یا لنډې ګړنۍ بڼې "بیس" او د اویستایي ژبې له "ویستي"، د سنسکریت له "vimsati, vinsht vinshati" او د پنجابۍ له "وي" سره یوآری/cognate دی او ګډه ریښه لري.

35 سنسکریت کې ۱۰ ته , dasha dash, dasa، ۲۰ ته vimsati ، ۳۰ ته trimsati ، ٤۰ ته -catvarim sati، ۵۰ ته pancasat، ٦۰ ته sasti ، ۷۰ ته sapti، ۸۰ ته asiti، ۹۰ ته navati، ۱۰۰ ته satam یا sata وایي. شلوته د vimsati ترڅنګ vinshat, vinshati, dvidasha هم وایي. www.dictionary.tamilcube.com (اکتوبر ۲۰۱۲ ز)

ketabton.com - The Digital Library

داســـــــې ښـــــکاري چې پــــه منځنـــــۍ پښتو کـــې به ”-ویشت“هم یو خپلواك ویـی و او د اوسـني ”شـل“ پرځـای بـه کارېـد، چـې د وخـت پـه تېرېـدو سره یـې ځـای ”شـل“ نیولـی دی.

دا ویـی اوس پـه خپلـواك ډول نـه کاریـږي خـو ریښـه یـې د ( یوویشـت/یوویش، دوه ویشـت، درویشـت، څلرویشـت، پنځـه ویشـت، شـپږ ویشـت، اووه ویشـت، اتـه ویشـت، نهـه ویشـت) پـه ترېنگونـو ( ترکیبونـو ) کـې لا هـم ژونـدۍ ده.

خـو ”شـل“ پښـتو ژبـه کـې لکـه د اروپایـي ښـکارندې ( درځـن[٣٦]) پـه شـان د ځینـو توکـو د شومـره والي / quantity د میـچ (انـدزې) واحـد دی. لکـه څنگـه چـې اوس د نـړۍ پـه کچـه دولسـو تـه (درځـن) وایـي، همدغسـې پښـتانه شـل توکـي ( شـله ) گڼـي. اوس هـم هغـو ځایـو کـې چـې پښـتانه لـه ښـاري ژونـد څخـه لېـرې دي او ژبـه یـې سـوچه ده ( دوه شـلې، درې شـلې... نولـس شـلې) دود دي چـې دوه شـلې څلویښـتو تـه، درې شـلې شـپیتو تـه... نولـس شـلې یوسـل و اتیـاو تـه وایـي. هیلـه ده چـې نـوره څېړنـه بـه یـې هـم وشي.

٣٦ درځـن د ١٢ یـو ډول، شیانو ټولگـې تـه وایـي. انگریـزۍ د ”dozen“ ویـی د زړې پرانسـۍ لـه “-dou zaine” نـه اخېسـتی دی. ډوزایـن پـه پرانسـۍ کـې د دولـس شـیانو ټولگـې تـه وایـي. پرانسـۍ پـه خپـل وار دا ویـی د رومـي امپراتـورۍ د ژبـې ( لاتین ) لـه « دودیسـم duodecim » څخـه چـې لـه « دوه duo + لـس decem » څخـه مرکبـه ده، پورکـړی دی. پـه پرانسـۍ کـې د پنځلسـو شـیانو ټولگـې تـه« quinzaine » ، د شـلو شـیانو ټولگـې تـه« vingtaine » اود سـلو شـیانو ټولگـې تـه ”centaine“وایـي.” ایټایمـو اونلایـن - ٢٠١٢ ز”
ویـل کېـږي چـې د درځـن تصـور د عـراق لـه سـومریانو څخـه اخېسـتل شـوی دی.” علي عبـاس جلالپـوري ”

ketabton.com - The Digital Library



## وردگ او وردگي ګردود

**میدان وردگ د ولایت په توګه:**

میدان وردگ ولایت د افغانستان په مرکزي سیمه کې پروت دی. ختیز ته یې کابل –پروان، جنوب ختیز ته یې لوګر او لویدیز ته یې بامیان-غزني ولایتونه پراته دي.

دې ولایت ته د ظاهرشاه په واکپر ۱۹٦٤ زیږدي کال کې د ولایت درجه ورکړل شوه. په دغه کال کې بادغیس، بغلان، بامیان، غورات (غور)، قلات (زابل)، کاپیسا، کندوز، کونړونه(کونړ)، لغمان، لوګر، نیمروز، روزګان، پکتیا، سمنګان او تالقان سیمې هم ولایتونه وګرځېدل.[37]

د میدان وردګو لومړنی پلازمېنه کوټ اشرو وه؛ خو د سردار محمدداود خان په واکپر کې یې میدان ښار د پلاز، مېنه وټاکل شوه. اول کې د دې ولایت نوم یوازې "وردګ" و؛ خو د ډاکترنجیب الله د واکمنی له پای ته رسولو سره یې نوم په (میدان وردګ) واړول شو.

د میدان وردګ ولایت د نامهٔ په اړه اوس هم د وردګو او میدان د ځینو خلکو ترمنځ

37 Statoids, Provinces of Afghanistan.

ketabton.com - The Digital Library

اختلافات شته دي. ځيني وردگ وايي، چې د ولايت نوم دې د پخوا په څېر يوازې وردگ وي خو ميدانيان ټينګارکوي، چې ولايت ته دې (ميدان وردگ) وويل شي. دا نوم اوس ډېر مشهور شويدی. پر دې سربېره ځيني وردگ بيا د(ميدان وردگ) پر ځای (وردگ ميدان) ټرنگ غوره بولي او پر دې نامه ټينگار کوي.

د يادونې وړ ده، په هغو ټولو اثارو کې چې له١٩٩٢ زېږدي کال نه وړاندې ليکل شوي (له ځينو پرته) په هغو کې (ميدان) او (وردگ) د جلا، جلا سيمو لپاره کارېدلي دي. خوکله چې (وردگ) کلمه يوازې راغلې نو اطلاق يې پر ټول (ميدان وردگ) ولايت شوی دی.

په سياسي- جغرافيوي لحاظ ميدان وردگ ولايت، ډېر ارزښت لري. د کابل لويديزه دروازه ده او د افغانستان د څو مهمو ولايتونو په لاره کې پروت دی.

د ميدان وردگ ولايت پراختيا (٩٠٢٣) کيلو ميتره مربع اتکل شوی او د سمندر له مخ نه (٢٢٢٥) ميتره لوړ پروت دی.

ميدان وردگ د خېلونو او توکمونو له مخې په درو سيمو (وردگ، ميدان او بهسود) وېشل کيږي، چې کومه رسمي بڼه نلري. په رسمي ډول له مرکز پرته اته ولسوالۍ لري (١٣٩١). د وردگو په سيمه کې چک، جغتو، سيداباد او جلگه (دايميرداد) ولسوالۍ راځي.

په جغتو ولسوالۍ کې د (جغتو) په نامهٔ يو غر هم شته، چې ښايي له همدې امله ولسوالۍ (جغتو) بلل شوې وي. د پام وړ ده، چې د جغتو په نامهٔ يوه ولسوالۍ په غزني کې هم شته ده. همداشان د منځنۍ اسيا په قرغزستان هېواد کې هم د جغتو په نامه يو غر شته دی. کيدون لري چې په تاريخي لحاظ د دواړو ترمنځ څه تړاو شته وي.(؟)

جلگه يوه لېږې پرته او د چارواکو له پامه لوېدلې ولسوالۍ ده. دې ولسوالۍ ته هزاره گان او پارسي ژبي (دايميرداد) وايي.

د ميدان په سيمه کې (ميدان ښار، نرخ، جلرېز) ولسوالۍ راځي.

په بهسودو کې دوه ولسوالۍ پرتې دي. يوې ته يې اول بهسود وايي، دا ولسوالۍ د ولايت لويديز ته پرته ده، بلې ته يې مرکزي بهسود وايي او ځيني خلک يې دويم بهسود هم بولي.

د (بهسود) په نامه په ننگرهار کې هم يوه ولسوالۍ شته ده. په پېښور کې د چراټ پرسرک، د پبو سټېشن او جلوزو ترمنځ هم يوې سيمې ته (ډاگ بهسود) ويل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

**وردګ د پښتني ټبر په توګه:**

وردګ لـه آره کرلانـي پښـتانه ګڼـل کيـږي؛ خـو دوی ځانونـه پـه سـيدانو ورګـډوي. ځيني وردګ، منګل او ځدارڼ وايـي چې دوی پـه خپلـو کـې ورونـه دي او د کورنـۍ شـجرې لـه امله بېـل شـوي دي. د منګلـو، ځدرانـو او وردګـو د خپلـوۍ د دې ولسي روايت پخلی د منګلـو، ځدرانـو او وردګـو د ګډودونـو لـه پرتليـزې څېړنـې هـم کيـږي. "د کرلانيـو پښـتنو د زېـږون آر ټاټـوبی د سـليمان غـره، د برمـل غـر دی، چـې لـه هغـه ځايـه وروسـته خـواره شـوي او پـر اوسـنۍ سـيمه مېشـت شـويدي."[۳۸]

ځيني وردګ پـه کونـړ، هـرات، هيلمنـد، زابـل، غـزني، بلـخ، ننګرهـار، بـغلان، کنـدوز، غـور (پـوزه ليـچ) ... کـې هـم اوسي.

پـه کونـړ کـې د وردګـو د اسـتوګنې ځايونـه، ګوريـګا، ګانشـال ... دي. ګانشـاليان وايـي چـې دوی لـه وردګـو دغلتـه تـللي او پـه ختـه مايـار دي.

همداشـان ځينـي وردګ پـه ديـر، دانګام...کـې هـم اوسي. ځينـو وردګـو پـه ګوريـګا کـې پـه خپـل ورتـګ شـاهړې ځمکـې ابـادې کـړي، ځينـې يـې پـه پيسـو اخيسـتي او اوس دغلتـه خپلـې ځمکـې لـري.

پـه هـرات کـې مېشـت وردګ پـه انجيـل ولسـوالۍ کـې ځانتـه يـوکلی لـري، چـې د وردګانـو محلـه يـې بـولي. د هيلمنـد؛ وردګ پـه (نـادعلي) او (نـاوه بارکـزي) ولسـواليو کـې اوسي.

ځينـي وردګ د پاکسـتان دپنجـاب ايالـت د پينـډۍ په (چـچ) او (نتهـو) ولسـواليو (ضلعو) کې هـم اوسي.

ځينـو وردګـو پـه بدخشـان، فاريـاب، بـغلان او کابـل کـې خپلـه ژبـه لـه لاسـه ورکـړې او پـارسي ژبي شـويدي.

پـه ولسي روايتونـو کـې وردګ پـه درو خېلونـو: نـوري، ميرخېـل او مايـار وېشـل کيـږي او وايـي چـې يـو خېـل د قلـم، بـل د مشرۍ او بـل خېـل د تـورې او جنـګ خلـک دي. دې فولکلـوري روايـت تـه چـې ګـورې د زردشـت د وخـت آريايـي وګړنيـز جوړښـت ور پـه يادېـږي او لـه هغـو سره يـې اړيکـو تـه پـام اوړي. ځکـه "زردشـت د زردشـتيت يـا اورپرسـتۍ د ديـن بنسـټوال هـم درې زامـن درلـودل، چـې لومـړی يـې د موبدانـو مشر، دويـم يـې د بزګرانـو مشر او دريـم يـې د جنګيالـو مشر و. د زردشـت پـه امـت کـې هـم دغـه درې ډلـې خلـک: روحـاني، بزګـران او جنګـي موجـود ول."[۳۹]

---

۳۸ عبدالطيف ياد طالبي، "پښتني قبيلې"
۳۹ علامه عبدالحی حبيبي، " دپخواني تمدن درې دورې"

ketabton.com - The Digital Library

همداشـان لـه زردشـته وړانـدې کلـه، چـې هندوسـتان تـه آریایـان پـه شـاوخوا ۱۸۰۰ مخزیـږدې کلونـو کـې ننوتـل او ځایـي خلـک (دراوړیـان) یـې پسـې واخېسـتل او دوی یـې پرځـای مېشـت شـول؛ نـو لـه خپلـو آریایـي فکرونـو او باورونـو سره سـم یـې وګـړي پـه درو ډلـو: برهمـن= برمـن ( دعـزت خاونـدان یـا روحانیـان)، کشتریـان (جنګیالیـان) او شـودر = سـوډر[٤٠](احمق یـا ښـکته طبقـه) ووېشـل. هـان، تـر اوسـه پـه هندوسـتان کـې دغـه طبقـاتي نظـام دوام لـري. همدغسـې د آریایـي مخینـې (سـابقې) لـه املـه پـه پښـتنو کـې هـم د دغـه طبقـاتي نظـام نښـې نښـانې پاتـې دي.

**وردګي ګړدود:**

پـه وردګـي ګـړدود کـې، کـه د ویـي لومـړی غـږ زورکـی /a/ ولـري، نـو پـه زېـر / /e بدلیـږي. لکـه لانـدې:

ظریف خېل = ظېریف خېل

شړشم = شېړشم

لري = لېري

سړي = سېړي

بدي = بېدي

غوړي = غېړي

وردګ = وېردګ

وردګـي ګـړدود کـې کـه د ویـي پـه منـځ کـې کـوم /ا/ راشي، نـو لکـه د وزیـري ګـړدود غونـدې پـه /و/ بدلیـږي، لکـه لانـدې:

کار = کور

پاس = پوس

ولاړ = ولوړ

ابا = ابو

کابل = کوبل

پلار = پلور

کال = کول

وردګ /ځ/ په /څ/ اړوي، لکه لاندې:

---

٤٠ پـه غـزني او لویـه پکتیـا کـې اوس هـم د سـوډر ویـی کاریـږي، وایـي:( خوشـې سـوډر دی.= خوشـې احمق\الوچـک دی.)

ketabton.com - The Digital Library

ورځې= ورڅې
ځای = څای
ځه = څه
په ځینو ځایو کې /ی/ غورځوي لکه، لاندې:
دوی = دو
هغوی = هغو
د ویې وروستنۍ ښځینه /ه/ په /و/ اړوي، لکه:
به = بو
ته = تو
که = کو
په ځینو وییو کې سپک /و/ په /ې/ بدلیږي، لکه:
پورې = پېرې

**وردګي ګړدود او پښتو سوچه وییونه:**

وردګـي ګـړدود کـې ډېـر پخـواني او سـوچه پښـتو ویـي اوریـدل کیـږي. د دې وییـو تولـول او خونـدي کـول ډېـر اړیـن دي. کـه خونـدي نشي ښـایي چـې ډېـر یـې ورک شي او دا لویـه ژبنـۍ شـتمني مـو لـه لاسـه ووځـي. دا ویـي پـه نـورو ګړدودونـو پـه تېـره منګلـو، ځدرانـو، احمدزیـو... کـې هـم اوریـدل کیـږي. د وردګـي ګـړدود د وییـو یـو څـو سـاري دا دي:
پرېودل: وهل ټکول (ګل خان یې په پنځه تنو ښه وپرېوده.)
پارو: راشپېل
مکۍ: پاستۍ، ګرده نرۍ ډوډۍ
لاسۍ: نان کنکه، دستۍ
پونډه (بلګړ: پنډه): چم
خـت: کمیـس، څومـره بـه ښـه وي، چـې د لاتین ویـي «قمیـص = کمیسـا» پرځـای مـو خپـل ژونـدی او خـوږ ویی «خـت» کارولی. د لـغمان پـه ابراهیـم خېلـو کـې هـم د «خـت» ډیرګـړی «ختـې» کاریـږي چـې د نـاوې د واده جامـو تـه وایـي. همداشـان «ختـې» د جامـو پـه مانـا پـه ځینـو نـورو پښـتنو ټبرونـو کـې هـم کاریـږي لکـه پـه دې کنځـا کـې «کـه سـم نشـو، ختـې بـه تـرې وباسـم!»
جېرګه: هدیره

ketabton.com - The Digital Library

کړک: وړه ځانګه. له دې څومره ښه ښکاري چې د کړکۍ[٤١] ریښه په کړک کې پټه ده.
کړه کۍ (بلګړ یې: ګړه کۍ، د خره کۍ په وزن)، چنګک، هغه اله ده چې د ونې ځانګې په پرېکېږي.
ګونۍ (دبنۍ په وزن): بوجۍ، توړه
ایره: ړیره
سروېږدی:[٤٢] بالښت
بوده (د ځارویو د شمېر د واحد په توګه): سره (څو بوده مال لرې = څو سره مال لرې؟)[٤٣]
وځه:[٤٤] د سرې یا ښځې ګېډۍ.
ګوانده:[٤٥] د خره ورۍ.
کناخ: کارغۀ، کارګه.
کیشکره: کیکره، تیتره
زۍ: زوۍ
ترانه: تناره
اروېدل: اورېدل (په وردګې ګړدودکې اوړون metathese هم دپام وړ دی.)
همداشان په دې ګړدود کې نور ډېرخواږه غونډونه[٤٦]، ګړنې[٤٧]، څرګندنې[٤٨] او متلونه شته چې خوندي کول یې اړین برېښي.
لکه:
- (تورې ترپې) د (هلې خلې) په مانا
- (ور په دروازه) د door to door)) په مانا (البته دا مې په میدان ښار کې اورېدلی دی.)

41 window
٤٢ احمدزي او ځینې نور هم ورته سروېږدی وایي. په احمدزیو کوچیو کې سروېږدی کېښوول، د دلیل راوړلو او د ژغورنې د لارموندنې په مجازي مانا هم کارېږي، لکه (هغه خو دې وواژه اوس به ځانته څه سروېږدی ږدې؟)
٤٣ احمدزي (بوده) د اوښانو د شمېر د واحد په توګه کاروي. او د مېږو او بزو د شمېر واحد په توګه (غوږ) کاروي، لکه (خالو څو غوږه مېږې لرې؟ ځونډی لس غوږه بزې لري.)
٤٤ په ځدرانو، منګلو، احمدزیوکې یې ″ وخ، وځکۍ...″ بلګړونه هم شته دي.
٤٥ احمدزي ورته (ګوینده) وایي. دا ویی د منګلو، ځدرانو ترمنځ هم دود دی.
46 phrases
47 Idioms
48 expressions

ketabton.com - The Digital Library

- غـوږ پـه غـوږو تويـږي، کـورت دې خـاورې وخـوري. (متـل- دا مـې هـم پـه ميـدان ښـار کـې اورېـدلی دی.)
- چې سوی هنم، نو هغه لوی هنم.
-کېږ به وښوري خو کرهېږ به ونه ښوري.
داسـې نـوره ژبنـی شـتمني شـته چـې لاتـر اوسـه پـه وردگـي گـړدود کـې پټـه ده او د پوهانـو لارې څـاري، چـې کلـه بـه يـې ټولـوي؛ څېـړي بـه يـې او لـه مرگـه بـه يـې ژغـوري. (پـای)

ketabton.com - The Digital Library

**اخځونه:**


۱. یاد طالبي، عبداللطیف. (۱۳۸۵). پښتني قبیلې. دانش خپرندویه ټولنه، پېښور.
۲. کاکاخېل، ظفر. (۲۰۰۹). پښتانه د تاریخ په رڼا کې. یونیورستي بک ایجنسی، پېښور.
۳. حبیبي، علامه عبدالحی. (۱۳۸٦ او وروسته). شل مقالې، بیلا بیل ټوکونه. علامه رشاد خپرندویه ټولنه، کندهار.
٤. صمیم، محمد اصف. (۱۵ جنوری ۲۰۱۵). شمال د پښتنو آرمېشتون. دعوت مېډیا. پر ۱ فبروری ۲۰۰٦ له لادې لارې وکتل شو:
/https://dawatmedia24.com

5. Statoids. (n.d.). Administrative divisions of countries: Provinces of Afghanistan Retrieved February 1, 2006, from http://www.statoids.com/uaf.html

ketabton.com - The Digital Library



## شنيځ - د پښتو يو زوړ ويی دی

شنيځ د ميدان وردگ ولايت د سيداباد ولسوالۍ يوه حوزه ده. په دې حوزه کې تول پښتانه اوسي. داسې ښکاري چې دا سيمه د غزنويانو په واکپېر کې هم اباده وه او پياوړي عالم لکه خواجه اسماعيل شنيزي، چې دافغاني پارسی لوی شاعر (حکيم سنايي) استاد و، هم پکې ژوند کاو.

"حکيم سنايي د خواجه اسماعيل شنيزي څخه علم او عمل دواړه زده کړي ول. په بله ژبه د حکيم د ظاهري او باطني علومو استاد نوموړی خواجه و... خواجه اسماعيل دپنځمې هجري پېړۍ په پای او د شپږمې هجري پېړۍ په پيل کې د هېواد يو لوی عالم اوعارف و، چې علاقه مندانو او شاگردانو به ترې علمي او عرفاني استفادې او استفاضې کولې."[49]

حکيم سنايي، د محمد اسماعيل شنيزي پر شاگردولۍ وياړل او خپل هر څه يې د نوموړي له برکته بلل. شنيزی د غزني د لوی حکيم په دېوان کې په يو اووه بيتيز غزل کې په ډېر درنښت ياد شوی دی:[50]

علم و عمل خواجه اسماعيل شنيزی

ما را ز نه چيزی برسانيد به چيزی

٤٩ ارينزی، احسان الله. "دغزني دلوی عارف حکيم سنايي د استاد خواجه اسماعيل شنيزي مزار".

٥٠ ارينزی، احسان الله. "دغزني دلوی عارف حکيم سنايي د استاد خواجه اسماعيل شنيزي مزار".

ketabton.com - The Digital Library

ما کبك دری بوده گریزنده زکبکی
او کرده دل ما چو دل باز گریزی
در کارگه و بارگه حکم و فنا یافت
جان و دل از دواسماعیل عزیزی
دین تازه شد از صدق اسماعیل پیمبر
جان تازه شد از دین اسماعیل شنیزی
چونان که سنایي را او قدر شناسد
ای بخت بدو گوی تو با بخت قوی زی

ښایي چې د غزنویانو په واکپېر کې د شنیځ سیمه پراخه وه او ډېرو کلیو چې اوس د شنیځ برخه نه ګڼل کېږي هم په دې سیمه پورې اړه درلوده.
د میدان وردګ ولایت اوسېدونکي لیکوال او څېړونکي احسان الله ارینزي، چې د خواجه اسماعیل شنیزي په اړه یې څېړنه کړې، د شنیځ په اړه لیکلي ''شنیز دره د خروار (ختیځ)، سجاوند یا سګاوند (شمال ختیځ)، وتسیا (هفت اسیا) (جنوب)، انخي (لویدیځ)، جغتو (جنوب لویدیځ) او سیداباد (شمال) تر منځ موقعیت لري او دا لاندې کلي په کې حساب دي: اوتړي، ډنډوکي، سلطان خېل، چهاردهي، پټان خېل، باغك، حسن خېل، یوسف خېل، خواجه ګان، لړم، اکه خېل، ښادي خېل، خواجه پاچاخېل، پتنك، سالار، بهادرخېل، سدوخېل، برات خېل، تره خېل، تودې چینې، کمکی ودره (ابدره) ستره ودره، سیرك، سرکول، بلنکاش او ځینې نور چې ټول په اداري تشکیل کې دسیدابادپه ولسوالۍ پورې تړلي دي.''[٥١]
شنیځ یو سوچه پښتو ځانګړ نوم بریښي چې د پښتنو لخوا پرې ایښوول شوی ښکاري. ځینې خلک، چې پښتانه د افغانستان د یو لوی ټبر په توګه نشي زغملای وایي چې د میدان وردګ، غزني، غور او پخواني غرجستان سیمې له آره د پښتنو نه دي او پښتانه دغلته وروسته تللي دي، خو دا خبره د دغو ځایو ځینې نومونه چې له آره پښتو دي، ردوي. په دې نومونو کې یو هم (شنیځ) دی، چې بې له اړنګ-بړنګه پښتو دی او سیمه کې یې پښتانه اوسېدلي او اوسي.
دا نوم له دوو ګړونو (مورفیمونو) څخه جوړ شوی دی. اول ګړ یې ''شین'' د (سبز، تازه، سمسور) په مانا او ''-یځ'' روستاړی دی، چې د (ځای) مانا ورکوي. ''شین'' یا اوړېدلې بڼه ''شني'' د پښتو په ډېرو ترنګونو (ترکیبونو) کې راغلې چې وروسته به یې بشپړه یادونه وشي.

---

٥١ ارینزی، احسان الله. ''دغزني دلوی عارف حکیم سنایي د استاد خواجه اسماعیل شنیزي مزار''.

ketabton.com - The Digital Library

او ″-یځ ″ روستاړی د پښتو په پخوانیو شعرونو کې د روستاړي په بڼه په (ختیځ، لویدیځ او دریځ) وییو کې تر مونږ رارسېدلی او بلګړ (الومورفیم) یې په (منځ، ړمنځ، ګهیځ...)کې هم شته دی.

د ″-یځ ″ روستاړي په اړه ځیني ژبڅېړندویان وایي، چې دا له ځانه جوړ شوی او یا هم ټکر ویی دی، خو دا خبره ځکه ردېدای شي چې هان د کابل په هوتخېلوکې مې د یو ملګري له خولې د ځای نژدې بلګړ او لنډون د /-ځ/ په وینګ اورېدلی دی.[٥٢]

دې هوتک ملګري له ما سره په خبرو کې وویل ″ زموږ په مابینځ کې به دا خبرې نه وي.″ مطلب یې دا و چې زموږ په منځ کې د داسې خبرو اړتیا نشته ده. مابینځ د منځ اصلي بڼه او له ″مابین + ځای = ځی″ څخه جوړ شوی ویی ښکاري.

نو په همدې بنسټ ویلای شو چې د″شنیځ″لغوي مانا(شین ځای) دی. دا سیمه ډېره تر و تازه او سمسوره ده او ښایي له همدې امله ورته (شنیځ) ویل شوی وي.

په پښتوکې د″شین″ ویی ډېر کارېدلی، چې یو څو نمونې یې دا دي:

لومړی: د ″شین″ له ریښې رامنځته شوي، پښتو ځای او ټبر نومونه:

شینه: دا سیمه د کابل څرخي پله او احمدشاه بابا مېنې (ارزان قیمت) ته نژدې پرته ده.

شینکی: په کونړ او تګاو کې یو، یو ځای پر دې نامه شته دی.

شینواري: دا د ننګرهار ولایت یوه ولسوالۍ ده چې د پښتنو یو لوی ټبر (شینواري) پکې اوسي.

شینکی: د پکتیا په سید کرم ولسوال کې له کوسین سره نژدې څو غونډۍ شته دي، چې یوګړی (مفرد) یې شینکی او ډېرګړی(جمع) یې شینکي بلل کیږي. ویل کیږي چې دغه غونډۍ پخوا ډېرې شنې او سمسورې وې.[٥٣]

شینکوړک: دا د کونړ د شیګل ولسوالۍ د یو کلي نوم دی. دا د پښتو ژبې د دوو سترو لیکوالو او سیاستوالو (بهالدین مجروح او سید شمس الدین مجروح) پلرنی ټاټوبی دی. د یادونې وړ ده چې (- شینګ-) مورفیم په پشه یي ژبه کې هم موندل کیږي لکه په الیشنګ، کې چې د لغمان ولایت یوه ولسوالي ده. ماته مالومه نشوه چې

---

٥٢ د ښاغلي سیف الرحمان هوتک، چې د کابل په هوتخېلو کې ژوند کوي، له خولې مې اورېدلي دی. همداشان د کندهار د امنیې قوماندان جنرال رازق له خولې مې هم په رسنیو کې د (مابینځ) وینګ اوریدلی دی.

٥٣ دا مالومات راته ښاغلي مجاهدالله خان چې د سید کرم د کوسین اوسېدونکی دی، راکړي دي.

ketabton.com - The Digital Library

شینکوړک کې (شین یا شینګ) پښتو دی که پشه یې.

شینګاری:[٥٤] دا سیمه د لغمان په الینګار دره کې پرته ده. په دې ویې کې هم د (شین) ریښه ښکاري. داسې مالومیږي چې په دې ترنګ کې د (غره) ویې پخوانۍ بڼه "ګیري giri"[٥٥] هم پټه وي. په دې جوړښت په پښتو کې د (شین سري، شین سترګي، شین ټاغي...) ترنګونه شته دي.

شینکي کنډو: د پکتیا او لوګر ولایتونو د ازرې او ځاځیو ترمنځ یو کنډو دی. د دې ځای خاوره د نورې سیمې پرتله شنه ده.[٥٦]

شنه کلا: د لوګر له (برکي راجان) نه جنوب خوا ته د اخونخېلو او شمه زار تر منځ یوه سیمه ده، چې د شنې کلا په نامه یادیږي.[٥٧]

دویم: د "شین" له ریښې رامنځته شوي، ځیني عام ویې:

شینواری: یو ډول مچ (حشره) دی، چې په انګرېزۍ کې ورته dragon fly وایي، ځیني پښتانه یې سلایي هم بولي. دا پر شنو بوټو ډېر کېني او زیاتره یې شین رنګ لري چې له همدې وجې ورته شینواری ویل کیږي.

شینلی (بلګرېې: شنېلی): شنه او تازه واښه

شنه: تازه واښه (دوی خپلو څارویو ته شنه ورکوي.)

شنوالی: د ښونه (زیتون) د ونې دانې

شنه ټوخله: توره ټوخله، یو ډول ټوخی دی، whooping cough

شنه خړه: ګهیځ وختي (ادم خان په شنه خړه له کوره ووت.)

شنه زرغونه: د بوډۍ ټال، rainbow

شنه غاړه: شنه ټوخله

شنه لوخړه: شین لوګی، ګڼ لوګی

شنې: د خنجك د ونې غوړې دانې چې چیچل (خوړل) کیږي هم او تېل هم ورنه ایستل کیږي (متل: شنې په پټه نه چیچل کیږي.)

٥٤ د شینګاري یادونه راته ښاغلي داوود نیازي چې د الینګار درې اوسېدونکی او د څوو کتابونو لیکوال دی، کړې ده. په دې سیمه کې زیاتره نیازي اوسیږي.

٥٥ ګیري giri سنسکریت کې غره ته وایي. www.dictionary.tamilcube.com (2011 ز) قاموسونه. کام هم (ګاره) کلمه د لوی کاڼي a large rock په مانا او د کاڼیزې ځمکې rocky ground په مانا راخیستې ده.

٥٦ د ښاغلي حکیم خان کوچي له خولې - نوموړی احمدزی پښتون دی، چې د چاپیریال ساتنې په اداره کې یې کار کاوه او د پښتنو ډیر دودونه او پښتونولۍ اړوند مسایل یې په یوه ټولګه کې راغونډ کړي ول.

٥٧ د ښاغلي حکیم خان کوچي له خولې

ketabton.com - The Digital Library

شین توتي: مشهوره مرغۍ چې ځیني وګړي یې د خبرو لپاره هم ساتي.
شین ټاغ (شین ټغ، شین ټغی): یو ډول مارغه دی.
شین جاوی: هغه بوټی چې مړاوی شوی وي.
شین خوټی: یو ډول مارغه دی.
شین خورکه: یوډول شین رنګی کربوړی دی، څرمښکی
شین زمری: زړور، دلاور، تکړه
شین سترګی: شینو
شین سری: هغه څوك چې سر یې نوی نوی خرېیلی وي.
شینشوبی: سارایي ویلنی، سلات
شین غزی: د غزۀ (ونې) یو ډول دی.
شین سرې: یو ډول هیلۍ ده.
شین غاړی: یو ډول مرغۍ ده.
شین غولانځه: دګډو- بزو یو ډول ناروغي ده چې تي یې پکې درد کوي(ظفراللغات).
شین کوړم: د اوبو ډنډ چې شین ښکاري.
شین کوژی: یو ډول مرغۍ ده.
شین ګلی: یو ډول بوټی دی چې په یونانۍ درملنه کې ترې ګټه اخېستل کیږي.
شینکی: سمسور، تازه لکه دې ټپه کې چې وایي:(خال به د یار له وینو کېږدم— چې شینکي باغ کې ګل ګلاب وشرموینه.)
شینکی: له پخې ختې جوړه شوې کاسه چې رنګیږي، اوس یې کارول لږ شوي او انتیك ګڼل کیږي.
شینګی: دیدو، هغه آس چې د سپرلۍ له کاره وغورځي او بار په نه وړل کیږي.
شینی: یو ډول دانه چې پر پښو او لاسو راخېژي او ډېر درد کوي.
شینوبی: شنې اوبه، نرۍ شوملې (شړومبې)[58]
شینو: شین سترګی هلك.
شینوګی: شنې سترګې نجلۍ

**نـــچوړ:**

شـنیځ د اوسـني میـدان وردګ ولایـت د سـید ابـاد ولسـوالۍ یـوه حـوزه ده، چـې د سـیداباد ولسـوالۍ او غـزني ترمنـځ موقعیـت لـري. پـه پښـتو ژبـه کـې د ”شین“ ویـې ډېـر کارېدنـګ، د شـنیځ اېټیمولوجیکي جوړښـت او د سیمې چاپېرچـل تـه پـه کتـو سره

۵۸ د لغمان ابراهیم خېل یې (شوړنګې اوبه) بولي.

ketabton.com - The Digital Library

دا ویـی پـه دې ډول (شین + ځـای = شـني + ځـی = شـني + یـځ ) شـنیځ کیـږي، چـې ګڼـي ( مجـازي ) مانـا یـې سمسـور او ابـاد ځـای کیـږي.
شـنیځ د پښـتو یـو سـوچه ویـی دی، چـې د ځاینـوم پـه بڼـه لـه نـن څخـه شـاوخوا زر کالـه وړانـدې، د غزنویانـو پـه واکپـر کـې هـم دود و او د دې سیمې یـو عـالم او عـارف (اسماعیـل شـنیزي) چـې د (حکیـم سـنایي) اسـتاد و، د دویـم نـوم پـه توګـه کارولی دی.
لـه شـنیځ سره د پښـتو هغـه درې ویـي ( لویدیـځ، ختیـځ، دریـځ ) چـې د (-یځ )روسـتاړی پکـې د ځـای پـه مانـا راغلی، څلـور کیـږي. ( البتـه لـه ګهیـځ، ږمنـځ، مابینـځ ... نـه پرتـه ) (؟)
پـه پښـتو او پښـتو نخـوا کـې ډېـر داسـې ځـای نومونـه او نـور ویـي شـته چـې د ″شین″ ریښـه لـري.
همداشان شین (زرغون) په پښتوکې د تازه او سمسور په مجازي مانا هم کاریږي.
هیله ده چې نوره څېړنه به یې هم وشي.

ketabton.com - The Digital Library

**اخځونه:**


۱. زیـار، مجـاور احمـد. (۱۳۸۵). لیکلاربښـود. د سـاپي پښـتو څېړنـې او پراختیـا مرکـز، کابل.

۲. کاکاخېل، سید بهادرشاه ظفر. ظفراللغات. پېښور: داره اشاعت سرحد پشاور.

۳. زاهـد مشـوانی، عبدالقیـوم. (۱۳۹۱). زاهـد پښـتو- پښـتو سـیند. دانـش خپرندویـه ټولنـه، کابـل.

٤. آرینـزی، احسـان اللـه. دغـزني د لـوی عـارف حکیـم سـنایي د اسـتاد خواجـه اسـماعیل شـنیزي مـزار. پـر ۱ فـروری ۲۰۱۰ ز لـه دې لینـک http://www.bena-wa.com څخـه کتـل.

ketabton.com - The Digital Library



## آس او متلونه

آس پـه درسـته نـړۍ کـې د شرافـت، ښـکلا او تېـزۍ لـه املـه پېژنـدوی دی. د هـر دیـن او مذهـب لارویـان یـې پـاک او مبـارك ګڼـي، د بریـا وسـیله، د ښـېګڼې او نېکمرغـۍ پـال یـې بـولي.

پـه هغـو ټولـو پخوانیـو اثـارو کـې چـې تراوسـه یـې څـرك لګېـدلی د طاقـت، چټکتیـا او تبرك نښـه او نښـان ګڼـل شـوی دی.

آس پـه لومـړي ځـل د تـور سـمندرګي پـه شمالي وښـیانو کـې، پـه بـل عبـارت د یوکرایـن او یوکرایـن تـه څېرمـه ځمکـو پـه سـویلي ورشـو ګانـو کـې، چـې د آریایانـو اولنـی ټاټـوبی بلـل کېـږي، پـه څلـور زره مخزېـږدي (۴۰۰۰-ق م) کـې د پیو (شـیدو)، غوښـې او پوسـتکي پـه خاطـر کـورنی شـوی او پالـل شـوی دی.

آس د څلـورو (۴) کلـو پـه منـګ (عمـر) بالـغ بلـل کېـږي. د میـندوارۍ (حمـل) مـوده یـې یولـس مېاشـتې وي، خـو کلـه ناکلـه لـه لـس (۱۰) میاشـتو نیولـې تـر دولـس (۱۲) میاشـتو وخـت هـم نـیسي. د آس عمـر عمومـاً د شـل (۲۰) او پنځـه ویشـت (۲۵) کلـو ترمنـځ وي. پـه ټولـه دنیاکـې دوه سـوه ډولـه یـا ذاتـه اسـونه شـته دي. یـو آس چـې پـوخ عمـر تـه رسـېدلی وي او زر (۱۰۰۰) پونډه(۴۵۳کیلـو ګرامـه) وزن ولـري؛ پـه بـدن کـې دیارلـس نیـم ګېلنـه وینـه لـري. ډېـر آسـونه اتلـس (۱۸) جـوړې پوښـتۍ لـري، مګـر عـربي او هغـو اسـونو چـې د هنـدي آریایانـو پـه سـپېڅلي کتـاب ریګویـدا (۱۸۰۰ق م)

ketabton.com - The Digital Library

کې یې یادونه شوې؛ اووه لس (۱۷) جوړې پوښتی درلودې. د زیاتو اسونو لکی له اتلس (۱۸) مورو[59] څخه جوړې وي، خو د عربي اسونو لکی له شپاړس (۱٦) مورو څخه جوړې دي.

د آس د سترګو لید (نظر) ډېر تېز وي، سترګې یې د وچې د غونډو حیواناتو په پرتله غټې دي او په یوه وخت، پرته له شانه، نور ټول، ښي، کیڼ او مخامخ لوري لیدلای شي.

آس د انسان او ځینو نورو حیواناتو، په توپیر یوازې د پوزې له لارې سا اخلي. د منډې پر مهال، په یوه دقیقه کې، پنځلس (۱۵) ګیلنه او همداسې(عام) تګ په دوران د یوه ګیلن څلورمه برخه اکسیجن اخلي.

زړه یې په یوه دقیقه کې پنځه دېرش (۳۵) وارې الوځي. «یوډېر ګړندی آس په یوساعت کې پنځه څلوېښت (۴۵) میله (۷۲ کیلو متره ) واټن وهلای شي.»

لکه څرنګه چې آس له شپږ زره (٦۰۰۰) کلو راهیسې له انسان سره نژدې پاتې شوی، نو له انسان سره یې د ژوندانه په هر ډګر: جنګ- جدل، سفر، لېږد، یوه، توخم شیندنه او نورو ځانګو کې مرستې کړې دي. په خپل زور، چټکی او ښکلا یې ډېر درنښت (عزت) او نوم (شهرت ) موندلی، هان د خدایګوټي (دیوتا) مقام یې خپل کړی او ډیر مهال د یونانیانو او ځینو نورو قومونو معبود پاتې شوی دی.

آس د انسان په خیالاتو، ګروهه (عقیده) او ژبه ډېر اغیز ښندلی؛ ډېر اساطیر[60]، انګېرنې[61]، متلونه[62]، ګړنې[63]، څرګندنې یا اصطلاحات[64] ، وییونه[65]، استعارې[66]، د ځایونو ا و انسانانو نومونه د، دهٔ د شتون او انسان سره د نژدې پاتېدو له کبله منځته راغلي، چې په لټولو او شربلو سره یې ډېرې تاریخي رښتینې (حقایق) سپینبدای او برسېرېدای شي.

دې لیکنه کې د ګوتو په شمېر متلونه چې د آس په اړه ویل شوي اویا هم آس پکې په څه ناڅه ډول یاد شوی، له پښتو او ځینو نورو ژ بو څخه راغونډ شوي اوتاسو ته وړاندې کېږي.

59 Vertebrae
60 Myths
61 Superstitions
62 Proverbs
63 Idioms
64 Expressions
65 Words
66 Similes

ketabton.com - The Digital Library

**آس او پښتو متلونه:**

دا بـه لـه مبالغـې خـالي وي، چـې و وايـو تـر اوسـه چـې ليکـوال د آس اړونـد متلونـو لټـون کـړی، څومـره متلونـه چـې د آس اړونـد پـه پښـتو کـې شـته، پـه بلـه ژبـه کـې ليکـوال نـدي ليـدلي. دا خبره روښـانوي چـې آس د پښـتنو ډېـر پخـواني ملگـری دی او ښـايي چـې د پښـتون ولـس نيکونـو آس کورنـی کـړی او پاللـی هـم وي.

١. آس چې شنهېږي، د مېخ په زورشنهېږي.
٢. آس د مېـوږي پـه زور ټوپونـه وهـي. د لومـړي او دويـم متـل پنجـابي انـډول: مېښـه د مېوږي لـه وجـې زورونـه وهـي.
٣. آسپه د اوربشو په زور آسپه ده.
٤. آس چې خوار وي، نو بې واگو شي.
٥. آسپه خپلې اوربشې پخپله زياتوي.
٦. آس چې خدای خواروي؛ نو يابو يې کي.
٧. آس چې له خره سره وتړې، د خرو خوی زده کوي.
٨. د زلمي/ پېغلې ساتنه د آس ساتنه ده.
٩. آس چې ټکنی دی ميدان لنډی دی.
١٠. آس يې هغو له ورکه، چې د تانگ د تړلو يې نه و.
١١. آس هغـو تـه ورکـه، چـې پـه تانـگ تړلـو يـې پوهيـږي.(لسـم او يولسـم متلونـه يوشـانې مطلـب ښـندي، لسـم بيانيـه او يولسـم امريـه بڼـې لـري.)
١٢. د جنگ په وخت کې آسونه، نه څربيږي/ ذين کيږي.
١٣. خر په ذين آس کيدای نشي.
١٤. آس دې له بله، لښته دې له ځنکله، چې نن يې نه ځغلوې؛ نو لا کله؟
١٥. آس پردی، سور پرې ميری.
١٦. آس به درکم خو سپرېږې، به پرې نه!
١٧. آس لره په/ تر لاس لره!
١٨. اسم (آس هم) غواړې او په لسم (لس هم) غواړې.
١٩. زوړ يـار ذيـن کـړی آس دی. دا متـل پـه پارسـی کـې هـم پـه دې شـکل دی: يـار قديـم آسـب ذيـن کـرده اسـت.
٢٠. خوله چې اموخته شي، آس ندی چې قيزه شي.
٢١. اخور يې جوړکه، ويلې آس به خدای راکي.
٢٢. چا په کلي کې نه پريښود، ويلې آس مې د ملك /خان کره وتړئ!

ketabton.com - The Digital Library

۲۳. آسونو نالونه وهل چونګښو هم پښې جګې /پورته کړې.
۲٤. آس يې په خر بارکه، خر يې پې مردارکه!
۲۵. آسان يې په سوو ګټي مېړونه يې په خولو ګټي.
۲٦. د آس لغته آس زغمي.
۲۷. د آسپې کره چې د زرو، روپو بچې وشي نو غوږ هم نه رپوي او که په چرګه کې د دوه، روپو هګۍ وشي نو بلورونه ماتوي.
۲۸. ښه دې پاس وي، که په خره وي که په آس وي.
۲۹. آس چې تګی شي، شپېلك نه غواړي.
۳۰. د آس شاته مه تېرېږه او د ماږه/امر مخې ته.
۳۱. لکه د ټانګې آس، بلې خوا نه ګورې.( متل ؟)
۳۲. چې په تمه د سورو شي، هغه پاتې په ميرو شي.
۳۳. خر په ذين نه آس کيږي./ خر په ذين آس کېداى نه شي.
۳٤. چې د تارو يې قيزه وي- د اغۀ (هغۀ) آس به څه مزه وي؟
۳۵. آس هم تاوان او نس هم تاوان.
۳٦. پردی آس خپل خره سره برابروي.(متل؟)
۳۷. د آس قيزه چاته مه ورکوه.
۳۸. د آس لغته آس زغمي.
۳۹. آس ششني (شنېږي)، خر رايي غاترې نورې بلا وايي.
٤۰. يو په ښځه مه نازېږه، يو په وسله او يو په آس.
٤۱. آس اسان دی، سنج يې ګران دی.
٤۲. آس به اوبو له بوځې، خو چې اوبه نه څښي نو څه به يې کړې؟
٤۳. آس پردی سور پرې کمالی/ ميری.
٤٤. آس په خپل قابو ترپيږي.
٤۵. آس توبره په کار زياتوي.
٤٦. آس چې په ميدان ورځي، نو د سواره په زور ورځي.
٤۷. آس چې خدای خواروي، نوم يې يابو کړي.
٤۸. آس دبله، غمچينه د ځنګله، چې دی يې نه ځغلوي نو به يې ځوك ځغلوي.
٤۹. آس د خرو په ډله خر شي.
۵۰. آس د سواره کوناتي پېژني.
۵۱. آس د موږي په زور ترپکې وهي.

ketabton.com - The Digital Library

۵۲. آس دی خو د خر نه پاس دی.
۵۳. آس دې وي، په لس دې وي.
۵۴. آس ښه دی که متروکه، لعنت شه په دواړه توکه!
۵۵. آس که د وښو سره ياري وکړي، نو خوري به څه؟
۵۶. آس نه راکوز، په خره سور!
۵۷. آس نه راکوز شه، آس زما دی.
۵۸. وزيری آس، ځانته خپله دانه زياتوي.
۵۹. آس او خر په يو اخور اوبه څښي.
۶۰. آس ورکول د ښځې ورکول دي.

آس د نورو ژبو په متلونو کې:
آس تـه کـه اضـافي پـروړه ورنکـړل شي نـه غتيـږي اوکـه سـړی د پرلپسـې معـاش سربېـره نـوره گټـه ونلـري، نـو نـه شـتمنيږي. (چينـي متـل)
Old horse does not learn how to walk.

ژباړه: زوړ آس د تگ چل نه زده کوي.(پرتگالي)
پښتو انډول: کونډې ته د غو... چل مه ورښئ.
One does not examine the teeth of a gift horse.

ژباړه: د سوغاتي آس غاښونه خوك نه گوري. (پرتگالي، يوناني، انگرېزي...)
The best horse needs breaking and the aptest child needs teaching.

ژباړه: ډير ښه آس ماتول غواړي او ډير تېز ماشوم پوهول(انگريزي)
پښتو انډول: انسان ته خبره او خره ته کوتك.
دجنگي آس، سېرلي[۶۷] او پاچا مخې ته مه تېرېږئ.(تورات)
پښتو انډول: دآس شاته مه تېرېږه او د ماړه /امر مخې ته.
يادښت: د تورات ډېر متلونه له پښتو هغو سره، سرخوري.

آس تـه قمچينـه (چابـك)، خـره تـه قيـزه اوسـوډر(احمق) تـه گېـډه کـې چـاړه پـکارده. (تورات)
دچـېلي (He-goat) لـه مخـې نـه، د آس لـه شـانه او د سـړي لـه ټولـو خـواو څخـه ډارېــږه.(روسي)
The world would not make a race –horse of a donkey.

۶۷ سېرلی : he-goat

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه: ټوله دنیا به له خره نه دځغاستې آس جوړ نکړای شي. (ایرلینډي)
پښتوانډول: تور خر په سابون نه سپینېږي.
بل انډول: خر په ذین نه آس کېږي.

A horse hired never tired.

ژباړه: پور کړی آس نه ستړی کېږي. (سکاټلینډي)
پښتو انډول: پردی خر په شا قوي دی.

The horse-shoe that clatters wants a nail.

دآس نال چې کړنګیږي، نومېخ غواړي.(انګریزي)

گوړا گرا ایک تماشه، سوار گرا تو دو تماشے (اردو)
(که آس وغورځېد نو یوه نندارہ او که آسوار وغورځېد نودوه ننداري.)

اعلم بفرسانها (عربي)
ژباړه: آس خپل خاوند ښه پېژني.(دا متل د هغه چا په اړه ویل کېږي، چې خلک یې شتمن بولي، خو شتمن نه وي.)

الخیل میامین.(عربي)
ژباړه: آس مبارک دی.

It is good horse that draws its own cart. (Irish)

ژباړه: هغه آس چې خپله ګاډۍ کشوي ښه آس دی.

Better a poor horse than no horse at all. (Scottish)

ژباړه: له نه آس نه خوار آس هم ښه دی.

Why shut the barn door after the horse is gone.

د آس له ورکېدو وروسته د استبلې ور تړل په درد نه خوري. (سکاټش)
پښتو انډول: اختر چې تېرشي نکروزې په دېواله وتپه!

از آسب دو از صاحبش جو.(فارسي)
ژباړه: د آس منډه وي او د خاوند اوربشې.

ketabton.com - The Digital Library

آسب نجیب را یك تازیانه بس آست. (فارسي)
ژباړه: اصلي آس ته يوه قمچينه پکار وي.
پښتو انډول: عقلمند ته اشاره او کم عقل ته کوتک.

ketabton.com - The Digital Library

**اخځونه:**


۱. ياسيني، عبدالشکور. (۱۹۸۲). ولسي پانگه. د ساپي دپښتو څېړنو او پراختيا مرکز، پېښور.
۲. ميجر، محمد نواز خان.(۲۰۰۴) تاريخي متلونه. سيټي بك ايجنسي، پېښور.
۳. محمد سرور. (۲۰۰۳). هوښياران وايي [متلونه]. رحمن گل پبلشرز، پېښور.
٤. منصوري، مهتاب. (۱۳۸۰). ضرب المثلهای ايرانی. انتشارات جاجرمی، تهران.
۵. علامه، الدميری. (۱۹۹۲). حيات الحيوان [اردو ژباړه:مولانا محمدعباس فتح پوری]. اداره اسلاميات، لاهور.
٦. د تورات اردو ژباړه

7. Field Enterprises Educational Corporation (1960). Horse. The World Book Encyclopedia.

8. Griffith, R. T. H. (1889). The Hymns of the Rigveda (2nd ed.). Alpha Edition.

9. Oklahoma State University (n.d.). Horse. Breeds of Livestock. Retrieved February 3, 2003, from https://breeds.okstate.edu/?Forwarded=afs.okstate.edu/breeds/horse.

10. Scots Online. (n.d.). Scottish Proverbs and Idioms. Retrieved February 3, 2003, from https://www.scots-online.org/grammar/eedioms.htm

11. Scots Online. (n.d.). Scottish Proverbs. Retrieved February 3, 2003, from www.visitunkkeld.com/scotish-proverbs.htm


**ځيني نورې سرچينې:**


1. www.hindu.com. Retrieved, 2003.
2. www.library.thinkquest.org. Retrieved, 2003.
3. www.terican.com. Retrieved, 2003.
4. www.users.hartwick.edu/-ides/index.htm. Retrieved, 2003.

ketabton.com - The Digital Library

نهم

## پښتو متلونو کې متلي اتلان

متـل لـه تجربـې ډکـه لنـډه او پخـه وینـا وي چـې خلـک یـې پـه خبرو کـې کاروي. متـل کله د نظـر د پـخلي لپـاره وړانـدې کېـږي، کلـه د څـو کلونـو یـوه لویـه تجربـه پـه لنډو کلمـو کـې د اوریدونکـي مخـې تـه ږدي او کلـه هـم د مجربـې لارښـوونې پـه ډول ویـل کیـږي. متلونـه داسـې پخـې او لـه تجربـې ډکـې لنـډې ویناوې وي چـې هـم پکـې خونـد شـته، هـم پکـې لارښـوونه او هـم پکـې ټولنیـزه تجربـه او مشـاهده. پـه هغـو ټولنـو کـې چـې لیـکلي قوانیـن او نرخونـه نلـري متلونـه یـې د دودیـز قانـون نالیـکلي قواعـد وي، چـې پـه مـټ یـې لویـې، لویـې شـخړې هواریـږي او څـوک تـرې سرغـړاوي تـه هـم زړه نـه ښـه کـوي.
پـه ځینـو ټولنـو کـې هـم دا متلونـه، انګېرنـې او نـور کلتـوري ارزښـتونه د وخـت پـه تېریـدو سره دینـي بنسـټونه او روایتونـه ګرځـي. د یهودیانـو د سپېڅلي کتـاب «تـورات» یـوه برخـه متلونـه تشـکیلوي چـې ویـل کېـږي پـه پخوانیـو مصریانـو پـورې اړه لـري، ځینـي یـې د اسرائـیلي ټولنـې وینـاوې ګڼـي، چـې د سـلیمان (ع) د پاچاهـۍ پـه دوره کـې ټولـې شـوې دي او ځینـي یـې پـه خپلـه د سـلیمان (ع) خبرې بـولي. د تـورات د متلونـو دغـه برخـه پـه عبرانـۍ ژبـه کـې د «مشلې/میشـلې» یعنـې «متلې/متلونـه» پـه نامـه یادیـږي. ماتـه خـو داسـې بریښـي چـې د پښـتو «متـل» کلمـې ریښـه بـه پـه مسـتقیم یـا

ketabton.com - The Digital Library

غیر مستقیم ډول همدغې عبرانۍ کلمې ته رسیږي. بلـه خبره دا ده چې د تـورات متلونـه لـه پښتو متلونـو سره ډیـره همرنګي هـم لـري، خـو د تـورات متلونـه لـه پښـتو متلونـو سره نـه بلکې د نړۍ د ډیـرو ژبـو لـه متلونـو سره ورتـه والـی لـري.
د ځینو متلونـو شـاته لویـې کیسـې او افسـانې پرتـې وي، چې زیاتـره متلونـه د همدغـو کیسـو نچـوړ او شیره وي او د یـو متـل پـه ویلـو سره د انسـان ذهـن ټولـې کیسـې تـه ورګرځـي.
په پښتنه او ځینـو نـورو ټولنـو کې چې څـوک ډېر متلونـه کاروي، هغه ډېر هوښیار او پـوه کـس ګڼـل کېږي. پـه جرګـو، مرکـو کې یـې اهمیـت تـر نـورو ډېر وي، دومره ډېر لکـه پـه یـوه حقوقي او قانـوني موضـوع کې چې قانونپـوه اهمیـت لـري.
لکـه څنګـه چې متـل د ولسي ادبیاتـو یـا فولکلـور یـو ځېـل (ژانـر) دی او د هـرې ټولنې فولکلـور د هغـې ټولنـې د ژونـد عـکاسي وي، نـو متـل هـم د ټولنیـز ژونـد د بېلابېلـو اړخونـو انځـور اېسـتلای شي. د فولکلـور د ځینـو نـورو ځېلونـو پـه شـان لـه متـل نـه د یـوې ټولنـې اقتصـادي حالـت، منطـق، فلسـفه، کلتـور، تاریـخ، کـره وړه ... ښـه روښـانیدای شي.
دساري په ډول:

1. چېرې چې اوسې، په خوی به د هغو سې.
2. چې نه کار، هلته دې څه کار./ چې نه کار، هلته څه کار.
3. چې څه کرې هغه به ریبې.
4. اوسپنه په اوسپنه ماتېږي.
5. زور په زور ماتېږي.
6. اوسپنه چې څومره ټکېږي، هغومره پلنېږي.
7. بد تربور په بد ځای کې پکارېږي. او داسې نور

لـه دې متلونـو (چېـرې چې اوسـې پـه خـوی بـه دهغـو سـې. چې نـه کار هلتـه دې څـه کار.) څخـه ټولنیـز کـره وړه، لـه (چې څـه کـرې هغـه بـه رېبـې.) څخـه د ټولنـې فکـري ژورتیـا او تجربـه، لـه (اوسـپنه پـه اوسـپنه ماتېـږي. زور پـه زور ماتېـږي.) څخـه د زور پـه مقابـل کـې د زور کارولـو تصدیـق، لـه (بـد تربـور پـه بـد ځـای کـې پکارېـږي.) څخـه پـه تړلـې ټولنـه کـې د تربرونـو ترمنځـه خرابـې اړیکـې او پـه بـدو جنګـي حالاتـو کـې د خپلـې بقـا لپـاره د دوی اتفـاق روښـانېږي. لـه روسـتي متـل څخـه د پخوانیـو انسـانانو هغـه حالـت هـم روښـانېږي چـې یـوې زوروري کورنـۍ بـه د ضعیفـې کورنـۍ پـر مـال او سـیمه خېټـه اچولـه او پـه مقابـل کـې بـه څـو کمـزورې خپلوانـې کورنـۍ سره یـو ځـای

ketabton.com - The Digital Library

کېدې او د زورور لوري مقابله به یې کوله او د هغه له ظلم او شر څخه به یې نجات موندہ.
د نورو فولکلوري څېلونو ترڅنګ متلونو کې ډېرې داسې اشارې او پټې خبرې نغښتې دي چې د ټولنې جګې او ټیټې ترې ښې څرګندیدای شي.
ځینې متلونو کې د اشخاصو نومونه هم راځي. لکه (جنګ به وي او میرى به نه وي!) یا لکه (که څه وایم، جانی کډه کي.) یا لکه (ماموته بیا دې موته.) د دې متلونو په څېړنه د یوې ټولنې خلک خپلو فولکلوري اتلانو ته رسېږي. موږ فولکلوري جنګیالی (میرى) پېژنو، د کمبخت (جاني) له حاله خبرېږو چې ولې له کلي کډه کوي، د (ماموت) حال را مالومېږي او همدغسې د ټولنې له نورو تتو اړخونو او ټولنیزو رازونو پرده پورته کېږي او ټولنه لا ښه پېژندل کېږي.
دلته یو څو متلونه چې اتلان لري، راغونډ شوي، هیله ده چې پوهان به پرې څېړنه وکړي چې دا متلي اتلان څوک ول، چېرې ول، ولې یې په اړه متلونه جوړ شوي او شا ته یې څه رازونه او کیسې پراته دي. که څه هم په دې برخه کې به څه کار شوی وي خو ډېرحساب پرې نشي کیدای.
د دې اتلانو له سمې پېژندنې سره به موږ وکړای شو، چې د ځانګړنو، کړنو...په بنسټ هر متلي آتل او یا د کوم بل فولکلوري څېل آتل ته ماناوې وټاکو او بیا ترې په معیاري ژبه کې ګټه واخلو.
د ساري په ډول په لاندې څو متلونو کې (میرى) د جنګ او زور نښه ګڼل شوې نو مونږ کولای شو چې (میرى) د جنګ او بې ځایه قدرت نښه وګڼو او ژبه کې یې د سرټمبه زورور او جنګیالي په مانا وکاروو. لکه کله چې مونږ د یو زبرځواک د ظلمونو خبره کوو نو ویلای شو چې (میرى بیا په پړو نه ټینګېږي.) او داسې نور...
متلي آتلان په درو برخو کې راوړل شوي دي:
لومړی، ناپېژندلي متلي آتلان.
دویم، تاریخي او مشهور متلي آتلان.
درېیم، متلي ټبرونه او سیمې.

**لومړی: ناپېژندلي متلي اتلان**

میرى:
میرى به ژوندی وي او رمې بی[68] لېوان خوري.
جنګ سوړ شو، میرى تود شو.

[68] بی : به یې

ketabton.com - The Digital Library

امير يې ورکوي شيخ ميرى يې نه ورکوي.
جنګ به وي او ميرى به نه وي.
آس پردى سور پرې ميرى.[٦٩]
عبدالله: ښايي چې عبدالله د يو چا نوم وي خو دا هم کيداى شي چې عبدالله دعربي ژبې (د الله بنده) په مانا کارول شوى وي.
توره دې لالاوهي، مړى دې عبدالله وهي.
منډې به لالا وهي، مړى به عبدالله وهي.
که رښتيا نه وايم الله مې نيسې، که يې وايم عبدالله مې نيسي.

**جانى:**
که څه وايم، جانى کډه کي.

**زرغون او نادرى:**
له لاندې متلونو داسې ښکاري چې زرغون ګټيالى و او نادرى چلولي چې تل يې د زرغون ګټه خوړله.
ګټه د زرغون او مزې د نادري.
چرګه د زرغون ده، هګۍ نادري کره اچوي.

**زرغون شاه:**
داسې ښکاري چې (زرغون) او (زرغون شاه) به بېلا بېلې څېرې وي. ويل کېږي چې زرغون شاه د ننګرهار د شينوارو يو تن پوځي افسر و، چې د محمد ظاهر شاه په واکپېر کې يې دنده درلوده. ښايي چې دا به هم دغه زرغون شاه وي.(؟)
نن ده/دى که سبا ده/دى دا ملک د زرغون شاه ده/دى.

**شېرداد:**
ښايي چې شېر داد اتڼچي وي، چې په يوه ګېډه ښوروا به يې اتڼونه کول.
اتڼ وهه شېرداده، نن بيا د چرګ ښوروا ده.

**قمبر يا عجمر:**
عجمر يا قمبر د بې پلانه او ناوړه مشر په مانا کارېداى شي.
چې مشر يې عجمر وي، اختريې مازديګر وي.

---

٦٩ دا متل په بله بڼه (آس پردى سور پرې کمالى.) هم شته دى.

ketabton.com - The Digital Library

چې مشر یې قمبر وي، اختر یې مازدیگر وي.

**ماموت:**

ماموته بیا دې موته.

**الله داد او مولا داد:**

واده، د الله داد، پکې غورځي مولا داد.

**ملاشاه گل:**

هر سور بڼیری ملا شاه گل ندی.
چې بڼیره یې سره وي، هغه به شاه گل وي.

**شیخ فرید:**

شیخ فریده، پټه خوله دې بهتري ده.

**ملا عمر او ملا عثمان:**

الحمد هغه الحمدو ده خو خوله د ملاعمر نه ده.
تقریر هر څوک کولای شي خو خوله د ملاعثمان غواړي.

**غلام فاروق:**

کنز به هر څه وایي،که ملا فاروق یې ومني.
دویم ، تاریخي او مشهور متلي اتلان:

**پیر بابا:**

چې خدای یې نکړي، نوپیر بابا یې څه کړي؟

**بهلول:**

یو یې بهلول، یو یې کچکول.

**منصور:**

منصور، رښتیا ویل سر یې په دارشو.

**لیلا مجنون:**

لیلی ته د مجنون په سترگه گوره.
که لیلا توره وه مینه یې سپینه وه.

ketabton.com - The Digital Library

**دورخانی:**

چې مور يې دورخانی وي، لور به يې ښاپېرۍ وي.

**ناصرخان:**

نه به ناصر خان او نه به يې تل سره اوښان وي. نورې بڼې يې: نه به ناصرخان وي تل - نه بی سره اوښان وي تل./ نه به تل ناصر خان وي او نه بی تل سره اوښان وي.

**عزرایل:**

په پردي زوی د عزرایل څه؟

**دربېم، متلي ټېرونه او کسبګر:**

**پچیری:**

خولې ام[70] د پچيري ورکه ده، او پټ ام پچيری ګرځي.

**کنډی:** کنډی کونړ کې د يو ځای نوم دی. ويل کېږي چې په دې بانډې پلي کاروانونه تېرېدل. دلته هيڅ ابادي نه وه. ډېره يخه سيلۍ به پکې لګېده، کله چې به مسافرو پکې دمه کوله نو له يخنۍ به يې ژامې ړچېدلې. په همدغسې يو حال کې دا متل د يو مسافر لخوا چې شپه يې په دغه ساړه جومات کې تېره کړې وه، ويل شوی دی. د کنډی په نامه په کونړ کې بيلا بېل کلي شته دي او دا ويې د (کنډي) بلګړ (الومورفيم) دی. د کونړ ولايت د څوکۍ ولسوالۍ يو ملګري او تکړه ليکوال ښاغلي امروزخان ساپی له خولې متلي کنډی، د کونړ د نورګل ولسوالۍ اړوند يو کلی دی.

کنډی زه به درنه لاړ شم، خو ته به له يخنۍ مړه شې.

**جولاګان او ډمان:**

واده، د جولاګانو، لنګي وشلول ډمانو.

(يادښت: بدبختانه پخوا پښتنه ټولنه کې، په ځانګړي ډول په کليو-بانډو کې کسبګره طبقه يا تخنيکي خلک: کولال، جولا، پيکوټ، موچي، ژرندګړی، خسبه، هندو، ختګر، ډم، موسلی، پاده وان/ګوروان، باغوان (هغه څوک چې په کليو کې به يې په خرو او خچرو سودا خرڅوله)... له يو ډول دوديز پېغور سره مخامخ ول او کمزوري ګڼل کېدل. زموږ د ټولنې دې جبر د پرمختګ لپاره دغه مهمه طبقه د

[70] ام: هم

ketabton.com - The Digital Library

حمایت پر ځای د کمترۍ پر احساس اخته کړې وه او همدا لامل و چې په خپلو کارونو او مهارتونو کې یې هیڅ ډول نوښتونه ونکړای شول، بنستونه یې رامنځته نه کړای شو او بالاخره د نورو ولسونو د پرمختللیو مهارتونو او تخنیکونو خوراک شول.)

**هندو:**

هندو چې وزګارشي، نوخپله بډیره تلي.

هندو چې وزګار شي نو خپلې خوټې تلي.

په دې برخه کې ډېره ځېرنه پکار ده، هان تر دې چې پښتوکې د داسې فولکلوري آتلانو لپاره ځانګړی پوهنغونډ او سیند رامنځته کول اړین دي. له دې سره به مو خپل فولکلوري اتلان folk characters په ښه ډول پېژندلي او د خپلې ټولنې له تومنې به مو د ژبې او کلتور په بډاینه کې ګټه پورته کړې وي.

ketabton.com - The Digital Library

**اخځونه:**


۱. یاسیني، عبدالشکور. (۱۹۸۲). ولسي پانګه. د ساپي دپښتو څېړنو او پراختیا مرکز، پېښور.

۲. میجر، محمد نواز خان.(۲۰۰۴) تاریخي متلونه. سیټي بك ایجنسي، پېښور.

۳. محمد سرور. (۲۰۰۳). هوښیاران وایي [متلونه]. رحمن ګل پبلشرز، پېښور.

4. Shivanath. History of Dogri Literature. Delhi-32: K9 Navin Shadrah, Sahitya Akademi, 1976.

6. Field Enterprises Educational Corporation (1960). Folklore. The World Book Encyclopedia. https://www.worldbook.com/.

7. Field Enterprises Educational Corporation (1960). Proverbs. The World Book Encyclopedia. https://www.worldbook.com/.

ketabton.com - The Digital Library

## ویيپانګه Glossory

| پښتو | مانا | انګرېزي |
|---|---|---|
| اواز | د وينا يا غږيدو ځانګړی غږ، اوا، فون | Phone |
| اوازپوهه | يا هم اوازپوهه د ژبې غږونه او د غږونو فزيولوېژيکي جوړېدل او صوتي ځانګړنې څيړي. | Phonetics |
| اوړون | قلب، په يو ويي کې د دوو غږونو وړاندې - وروسته والی transposition ته وايي لکه په (پښه – ښپه، روږ -ورږ....) کې. اوړون په ژبه کې د بيلابيلو ژبنيو دلايلو: ساده والي، غږيزې اسانی، ژبنۍ ارتقا او نورو امله رامنځته کيږي. | Metatheses |
| آرپوهه | ريښه شناسي، هغه پوهنه چې د کلمو ريښې او پرمختيا development ښيي. | Etymology |
| بلګړ | بلګړ/الومورف د ګړ/مورفيم بله بڼه وي، لکه د «ځای» بلګړ چې «ځی» او د «مرخېړي» بلګړ چې «خرمېړی» دی. بلګړونه په ټوليز ډول د ژبپوهنې په ګړ-غږپوهنه او ګړپوهنه کې لوستل کيږي. | Allomorph |
| پانګه | لغات، وييپانګه، ويکبلري | lexis, vocabulary |
| پور ژباړه | ترجمه قرضي، ګرته برداری | root for root translation,<br>word for word translation, calque, loan translation |
| پورونه | د کلمو پوروول، په مستعار ډول اخېستل | Borrowing |
| پورويي | مستعاره کلمه، واژه قرضی | Loanword |
| ترڼګ | ترکيب، مرکبه کلمه | compound (word) |
| توری | حرف، ګرافيم | Grapheme |

ketabton.com - The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| sister language | هغه ژبه چې له یوې وړاندینۍ ژبې زیږېدلې وي لکه زړه پښتو او زړې پامیري ژبې | خور ژبه (خویندې ژبې) |
| Phoneme | فونیم | غږ |
| Phonemic | فونیمي | غږیز |
| phonemic change | فونیمي بدلون | غږیز بدلون |
| phonemic contrast | فونیمي فرق | غږیز توپیر |
| Phrase | عبارت، ترکیب | غونډ |
| verbal root | فعلي ریښه | کړسته |
| Morpheme | مورفیم، واژ | گړ |
| Morphophonetics | مورفو- فونیټکس | گړ-اوازپوهه |
| Morphophonol-ogy | گړ- غږپوهه (مورفو فونولوژي) د ژبپوهنې هغه څانگه ده چې گړپوهیزه او غږپوهیزه راکړه-ورکړه یا اوازپوهیزه پروسې څېړي. د دوی لوی تمرکز په گړونو کې هغه غږیزو بدلونونو ته وي چې له گړونو څخه د وییو په جوړېدو کې پېښیږي.[71] | گړ-غږپوهه |
| Morphophono-logical | د گړ-پوهیزې ښکارندې اړوند | گړ-غږپوهیز |
| Idiom | ایډیم، محاوره | گړنه |
| grand daughter language | هغه ژبه چې دیوې ژبې له لورژبې نه راوتلې وي، لکه انگرېزي چې له مخنۍ جرمنۍ راوتلې او هغه بیا په خپل وارله مخنۍ هندیورو راوتلې چې په دې حساب انگرېزي د مخنۍ هندیورو لمسۍ کیږي. | لمسۍ ژبه |
| daughter language | هغه ژبه چې له یوې بلې پخوانۍ ژبې راوتلې وي، لکه انگرېزي او جرمني، چې د مخنۍ جرمنۍ ژبې لوڼې دي. | لور ژبه (لوڼې ژبې) |

71 https://dbpedia.org/page/Morphophonology

ketabton.com - The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| Book | کتاب | لیکی |
| Proto-Indo- European | د هند یورو ژبې مور چې په پوهنیز مصنوعي ډول رغول شوېده. | مخنۍ هندیورو (ژبه) |
| donor langauge | هغه ژبه چې بلې ژبې ته یې ویی ورکړی وي | مرستندویه ژبه |
| Middle Pashto | پښتو میانه، | منځنۍ پښتو |
| Summary | خلاصه ، لنډیز | نچوړ |
| ruling period | د واکمنۍ دوره، د پاچاهۍ دوره | واکپېر |
| judgment | قضاوت | ورمند |
| Word | کلمه، لفظ، | ویی |
| Indo-European | هندو-اروپایي | هندیورو (ژبه) |
| Cognate | هم آری، هغه ویی چې یوه ریښه لري | یوآری |

ketabton.com - The Digital Library

مجله انسان
فلسـفه، فرهنـگ، او هنر

# NINE LINGUISTIC ARTICLES

Relavant to
Pashto Lexis, History, and Folklore

Abdul Wadood Basharyar

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*